۱

ظَهَرَ الْفَسَادُ فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ بِمَا كَسَبَتْ أَيْدِي النَّاسِ
لِيُذِيقَهُمْ بَعْضَ الَّذِي عَمِلُوا لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ

جزاء الاعمال

مؤلف

امام العارفین حکیم الامت مجدد الملت حضرت مولانا شاہ محمد اشرف علی تھانوی نور اللہ مرقدہ

مفتی محمد معصوم افغانی

د تعلیم الاسلام ویب پانې د همکارانو له خوا:
www.taleemulislam-radio.com

مکتبہ حکیم الامت تھانوی
0333-7397276 :د موبائل شیرہ

١

ظَهَرَ الْفَسَادُ فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ بِمَا كَسَبَتْ أَيْدِي النَّاسِ
لِيُذِيقَهُمْ بَعْضَ الَّذِي عَمِلُوا لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ

جزاء الأعمال

مؤلف

امام العارفین حکیم الامت حضرت مولانا شاہ محمد اشرف علی تھانوی نور اللہ مرقدہ

مترجم
مفتی محمد معصوم افغانی

مکتبہ حکیم الامت تھانوی

سلیمی روڈ کوئٹہ

سلسلة الدعوة والارشاد

دکتاب پیژندنه

دکتاب نوم: جزاء الاعمال

مؤلف: حکیم الامت حضرت مولانا
محمد اشرف علي تهانوي (رحمة الله تعالى عليه)

مترجم: محمد معصوم افغاني

لمړی طبعه: ۱۴۲۲هـ محرم.
دچاپ شمیر: ۱۰۰۰ توکه.

دوهمه طبعه: ۱۴۲۲هـ جمادي الاول.
دچاپ شمیر: ۵۰۰۰ زره توکه.

دریمه طبعه ۱۴۲۹هـ شوال.
دچاپ شمیر: ۱۰۰۰ توکه.

دلاس ته راوړلو ځایونه:
۱ - مکتبهٔ حکیم الامت تهانوی کویته. 03337897276
۲ - مکتبهٔ رشیدیه پیښور.
۳ - مکتبهٔ غفاریه کندهار.

د تعلیم الاسلام ویب پانې د همکارانو له خوا پر لیکه کیږي:
www.taleemulislam-radio.com

د مضمونو فهرست

۱ - ددریم څلي چاپ سریزه ۱

۲ - دمؤلف اودکتاب لنډه پیژندنه ۲

۳ - خطبه ۸

٤ - مقدمه ۱۲

٥ - لومړی باب: ۱٦

په دې بیان کښې چې د ګناه کولو څه تاوان دی؟

٦ - را غلم اصل مطلب ته ٤٥

۷ - دو هم باب: ٤٦

په دې ویناکي چې په طاعت، عبادت اوصالح اعمالو کښې دنیوي څه ګټې دي؟

۸ - دریم باب: ۷۰

په دې کښې چې دګناه او د آخرت په سزا کې څومره تینګه علاقه ده.

۹ - څلورم باب: ۹۳

په دې بیان کښې چې دطاعت او د آخرت په سزا کې څه ډول مداخله او تاثیر شته.

۱۰ - نبه مشوره ۱۰٤

۱۱ - خاتمه: ۱۰٦

دځینو خاصو اعمالو په بیان کې کوم چې ډیر ګټور یا ډیر تاوانې دي او د عامو خلکو د شبهاتو په خواب کې.

دډريم ځلي چاپ سريزه

لله الحمد وله الشکر چي، جزاء الاعمال (پښتو) دين دوستو هيواد والو ډير خوښ کړي او دځانو لپاره يې يو ډول وظيفه ګرځولي ده. په ډيرو کورونو کښې ددي کتاب تعليم او تدريس پيل شوي او هم په ځيني ابتدائيه مدارسو کښې په تعليمي نصاب کښې داخل شوی دی. اميد دی چي پاته مدارس او عصري ښوونځي يې هم په تعليمي نصاب کي راولي. ولي چي نوموړی کتاب ډير په اغيزمنه توګه ليکل شوی او په لوست او تعليم سره يې انسان دګناهونو څخه راګرځي او طاعت او عبادت ته يې مينه ډيريږي. وړوکي ماشومان او طالبان څرنګه چي خالي الذهن وي نو دژوند په لومړنی مرحله کښې چي کومي خبري ددوی ذهنونو ته ورولويږي، هغه اغيزه دژوند تر پايه باقي وي. که بدي او ناوړي خبري وي نو ټول ژوند يې بدو او ناروا ؤ ته ميلان وي او که ښه خبري ورته ورسي نو بيا ددې ښه اغيزه او تاثير هم ټول عمروي.

دمور، پلار او استاذانو کوښښ بايد داوي چي دخپلو ماشومانو او شاګردانو دروزني لپاره ښه عمده او اغيزمن کتابونه موجود کړي او دناوړو کتابونو، فيتو او دګناهونو دټولنو څخه يې ډير ډير لري وساتي. دکتاب داهميت او دهيودوالو دغوښتني په اساس دريم ځل چاپيږي.

"ربناتقبل منا انک انت السميع العليم"

(محمد معصوم افغاني)

۱۷ جمادي الاول ۱۴۲۵ هـ

بسم الله الرحمن الرحيم

سريزه

دمؤلف او دکتاب لنډه پژندنه

قطب الارشاد،شيخ المشايخ،امام العارفين،حکيم الامة، مجدد الملة، محي السنة، ماحي البدعة، حضرت مولانا، شاه محمد اشرف علي تهانوي فاروقي(رحمه الله الباري) د ۱۲۸۰ هـ کال، دربيع الثاني دمياشتي په پنځمه نيټه،دچهار شنبي په ورځ يي فاني دنيا ته سترګي روني کړي. نوموړی فاروقي النسبه اوپه حکيم الامت سره يي شهرت موندلی دی.

دخپل وخت دنومياليو اوممتازو علماو نه يي ديني علوم زده کړي دي .دحکيم الامت نامتو استادان چي هريو يي دوخت رازي او غـــزالي وو، د ديوبند د دارالعلوم صدر المدرسين؛ شيخ الهند حضرت مولانا محمود حسن ديوبندي،رباني عـــارف مولانا محمد يعقوب نانوتوي او مولانا عبدالعلي(رحمهم الله تعالى)وو. حکيم الامة، په ۱۳۰۰هـ کال ،د ديوبند له مدرسي څخه دفـــقيه الامة،حضرت العـلامه مولانا رشيد احمد ګنګوهي(رحمه الله تعالى)په مبـــارکو لاسونو د فـــضيلت پګړی په سر کړه.

په کال ۱۳۰۱ هـ کښې، د سید الطائفه، حضرت حاجي امداد الله مهاجر مکي (قُدِّسَ سِرُّهُ) په لاس په څلورو سلسلو کښې بیعت کړی او دنومونړي له لوري ماذون شوي دی.

له دیوبند څخه ترفراغت وروسته، دکانپور په جامع العلوم مدرسه کښې، څوارلس کاله د درس، تدریس، تصنیف، تالیف، وعظ، ارشاد او باطني افاضه کښې بوخت وو. عام او خاص ډیرو، ډیرو خلکو ځني فیوضات ترلاسه کول، ان چې د واړه سیمې خلک یې ذاکرین او عابدین ګرځولي وو.

په ۱۳۱۵ هـ کال، دخپل مرشد په لارښوونه، د هغه امدادیه خانقاه (تهانه بهون) ته ستون شوي او هلته یې دري څلویښت کاله، اسلام او دین ته په خدمت کښې تیر کړل.

د حکیم الامة دقوي جذب، اوچت استعداد او روحاني فیض په برکت نومونړي خانقاه، دوخت یوه عظیمه خانقاه شوله. ان چې دامام رباني حضرت مجدد الف ثاني او خواجه نظام الدین اولیاء (رحمهم الله) دخانقاوو یادونه یې تازه کړه. په زرګونو خلکو دباطني ناروغیو نه دخلاصون او فیض موندلو

لپاره ورته رجوع کړي او خپل مراد ته رسيدلي ؤ.

دحکيم الامة نامتو خليفه، خـــواجه عزيز الحسن مـــجذوب (رحمه الله) دنو موړي خانقاه په هکله فرمايي:

عجب فرصت گهي اين خانقاه است.

عـجب نزهت گهي اين خانقاه است

يکي ساقي ومي خواران هزار اند

دوچشم مست او مشـــغول کارند

دل اينـــجا ميکـــند الله. الله

که هر دم بشـــــنود الله، الله

چي صحت بخش هست اينجا فضايي

دل اينجا بي دوا يابد شفـــاهي

تعالى الله چي عالي بارگاه است

که اينجا هر گدائي بادشاه است

دحکيم الامة دمسترشدينو اوخلفاء وشمير، يوسل اونه ويشت تنه ته رسيږي، ځيني معروف او نامتو خلفاء يي دا دي:

١- سُلطـــانُ العـــارفين حضرت مـولانا شاه عبدالغني پهولپوري.

٢- مفتي اعظم. حضرت مولانامفتي محمد شفيع ددارالعلوم کراچي مؤسس.

۳- حضرت مولانا مفتي محمد حسن امرتسري دجامعه اشرفيه (لاهور) باني.

۴- حضرت مولانا خير محمد جالندهري دخير المدارس (ملتان) مؤسس.

۵- حضرت مولانا قاري محمد طيب د دارالعلوم ديوبند مهتمم.

۶- جامع المعقول والمنقول حضرت مولانا رسول خان هزاروي.

۷: حضرت مولانا سيد سليمان ندوي.

۸-نامتو محدث حضرت مولانا ظفر احمد عثماني (داعلاء السنن مؤلف)

۹- حضرت مولانا عبدالرحمن كاملپوري[1] د اسلامي جامعه (راولپنډي) باني.

۱۰- حضرت خواجه عزيز الحسن مجذوب.

۱۱- حضرت مولانا محمد عبدالحي عارفي.

۱۲- حضرت مولانا شاه ابرار الحق صاحب (هندوستان) رحمهم الله اجمعين.

اوس هم ددغي مبارکي سلسلي دمسترشدينو په

۱- شهيد مولانا عبدالغفار (بريالي) عليه الرحمه دنومورې له تلامذه و څخه و.

وسيله يي دنړۍ په بيلا ،بيلو هيوادونو کښې، د شريعت او طريقت په رڼا کښې، داسلام او دين لپاره خدمتونه، هاند او هڅي دوام لري.

حکيم الامة،په ټولوعلوموکښې دبشپړ مهارت څښتن او برلاسۍ ؤ.

نومورۍ بي مثال متکلم،عظيم فقيه،عديم النظير مفسر،ستر محدث،دطريقت او حقيقت امام وو.

په تفسير،حديث،فقه،تجويد او تصوف کښې يي زيات شمير آثار(تاليفات)پري ايښي دي.

ددين داسي څانګه نشته چي، حکيم الامة دي په هغه موضوع کښې يو مُحَقَّق تصنيف کړي نه وي.

دنومورۍ دتاليفاتو داخصوصيت دی چي،په لنډ عبارت کښې ډير جامع مضمون راولي. دنقلي او عقلي براهينو کثرت پکښې وي. د هراثرڅخه يي حقايق دلمر په شان روښانه وي. دا تصانيف ډير مقبول شوي دي چي په ملينونو خلګ ورڅخه فيض اخلي.

در شريعت بود مارا مقتدٰی
در طريقت بود اونجم الهدٰی
آنکه تصنيفش گذشت از يک هزار
رفت درآفاق وامصارو ديار

له دي تاليفاتو څخه، يـــــوه وړوکي رساله (جزاء الاعمال) هم ده چې په لنډو عباراتو کښې يې ارزښتناکه مفهوم نغښتی او دې وړه مسلمان د اعمالو په دنيوي او اخروي ګټو او تاوانونو يې په نقلي او عقلي دلائلو سره جامع او ګټوره څېړنه کړي ده چې، لوستل يې ګټور او د علم خوښوونکو خلکو تنده ماتوي.

د دې اثر لوستل د اسلامي ټولنې دهرچا؛ نارينه، ښځينه، ځوان او سپين ږيري لپاره ګټور دي.

(جزاء الاعمال) موږ په ساده پښتو ژبه ژباړلی دی. د آيتونو ژباړه مو د عثماني تفسير څخه کړي ده. د ژباړې مفهوم اسانه دی چې، هر څوک ورځخه برخمن شي. دا د دعوت او ارشاد دلړی لومړنی کتاب دی. انشاءالله تعالی دغه لړی به جاري وي.

وماذلک علی الله بعزیز.

ګر قبول افتد زهي عز و شرف.

محمد معصوم "افغاني"

کندهار، افغانستان

١٤٢١/١٢/٢٢هـ ق

بسم الله الرحمن الرحيم

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ تُجْلَبُ النِّعَمُ بِطَاعَتِهٖ وَالنِّقَمُ بِعِصْيِهٖ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ الْاَتَمَّانِ الْاَكْمَلَانِ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ نَبِيِّهِ الَّذِيْ جَعَلَ الْعِزَّ لِمَنْ وَالَاهُ وَالَّذِيْ جَعَلَ الذُّلَّ وَالْهَوَانَ عَلٰى مَنْ عَادَاهُ وَعَلٰى آلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الَّذِيْنَ اتَّبَعُوْهُ فِي الْمَنْشَطِ وَالْمَكْرُهِ وَالْيُسْرِ وَالْعُسْرِ (رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُمْ) وَوَفَّقَنَا لِلتَّاسِيْ بِهِمْ.

اما بعد:

دا عاجزه بنده وخپلو ديني ورونو ته عرض کوي چي اوس زمونږ کوم حالت دی چي، په عبادت کښي سستي اوغفلت اوپه ګناهونو کښي غرقيدل او جرئت بلکل بښکاره دی. تر کومه حده چي تحقيق شوی دی، ددي ستره وجه دا معلومه شوي ده چي دښو اوبدو عملونو جزاء صرف په اخرت کښي ګڼو په دي هيڅ خبر نه يو چي په دنيا کښي هم ددي څه نتيجه کيداشي اوکه نه؟ اودنفس دصفاتو دغلبي له کبله ددنيا جزا اوسزا څـــرنګه چي هغه ژرپيښدونکي ده نونظر ډير ورته کيږي. بياپه اخرت کښي هم دجزا اوسزا پيښيدل عقيدتاً دهغو اعمالو ثمره ګڼي. ليکن ربښتيا خبرۀ خو دا ده چي کومه کلکه علاقه په موثر اواثر، سبب او مسبب

کښې په کار ده اوپه دنيوي اسبابو او مسببانو کښې ګڼي، همهغه علاقه په دغه قوت سره په اعمالو اودهغوداخرت په ګټوکښې هيڅ کله نه ګڼي بلکي لږ،لږداسي فکرکوي چه دغه عالم دپيښويوه مستقله سلسله ده. چاته چې وغواړي سزا ورکوي چاته چې بيا وغواړي په نعمتونو سره يې خوشحاله کړي.

داسي فکرکوي چې داعمالوپه دي کښې هيڅ دخل(۱) نشته،حال داچې دغه فکرد ډيروآيتونواو صحيحواحاديثوخلاف دي چې اوس به ژرپه تفصيل سره معلوم شي. انشاء الله تعالى.

له دي کبله،ددي مرض دختمولولپاره دوي ضروري خبري يادول په کار دي.

لومړی: دکتاب،سنت اومحققينو دملفوظاتو څخه دا وښودل شي چې، لکه څرنګه چې په آخرت کښې پر

۱- څوک دې دا اعتراض نه کوي چې داعمالو نه مداخلت دصحيح حديث څخه هم معلوميږي چې په هغه کښې يې داسي فرمايلي دي چې هيڅ سړی به دعمل په زور وجنت ته نه ځي... انتهي.
جواب يې دادی چې. دحديث دامطلب نه دي چې دعمل بلکل دخل نشته بلکه مقصد يې دادي چې پر اعمالو باندي غرور په کار نه دی. قال الله تعالى: "إِنَّ رَحْمَتَ اللهِ قَرِيبٌ مِنَ الْمُحْسِنِينَ". (الاعراف۵۶)

اعمالو جزا اوسزا ورکیدونکي ده، داسي په دنیاکښي هم دهغه ځینې ښې نښاني پیښیدونکي دي.

دوهم: دا ثابته شي چې، په اعمالو اوداخرت په ثمراتو کښې داسي تاثیر(اغیز) دی لکه په اور بلولو او ډوډی پخولو کښې. یا په ډوډی خوړلو اودنس په مړیدلو، یا پراورد اوب وشیندلو اوداور په ختمیدلو کښې.

ددي دووخبروترڅرګندبدلو وروسته، دالله تعالی دفضل څخه ډیرامید شته چې ژرترژره دجزا اوسزا دکیدلو په یقین سره او دغه ډول ددنیا پرکارخاني باندې داخرت دکارخاني دمُرتَّب کیدلو، دغالب اعتقاد څخه په عباداتوکښې رغبت او دګناهونو څخه نفرت پیداکیدلْ انیانه دي.

په راتلونکي کښې توفیق او کمک دالله عزوجل د لوري څخه دی. ددغه مقصد دپوره کیدو لپاره، دغه لنډه او کوچنۍ رساله په ساده (اردو) ژبه راټوله شوې او ددي نوم "جزاء الاعمال" اینبودل کیږي.

په دغه رساله کې یوه مقدمه، څلوربابونه اویوه خاتمه ده.

مقدمه: ددي خبري په اجمالي بیان کښې ده چې د اعمالو په جزا او سزا کښې دخل شته.

لومړی باب: په دي وينا کښي چي دګناه کولو څخه ددنيا څه زيان دی؟

دوهم باب: په دي وينا کښي چي په دنيا کښي په اطاعت او عبادت کولو کښي څه ګټه ده؟

دريم باب: په دي وينا کښي چي په ګناه او داخرت په سزا کښي څه رنګه تينګه علاقه شته؟

څلورم باب: په دي وينا کښي چي داخرت په جزا کښي دعبادت څرنګه دخل او تاثير شته دی؟

خاتمه: دځينو بنوا وبدو خاصو اعمالو په بيان کښي چي په کولو اونه کولو کښي يې ډيره اړتيا شته او د ځينو اعتراضاتو په ځواب کښي چي د ډيرو عوامو لپاره دبي باکۍ سبب ګرځيدلي دي.

الله سبحانه وتعالی دي. په خپل فضل او کرم سره د اصلاح او هدايت يوه بشپړه ذريعه وګرځوي او کومه ظاهري او باطني غلطي چي زما څخه وشي هغه دي معاف کړي. آمين.

والان نشرع وبه نستعين.

(محمد اشرف علي)

مُقَدَّمه

ددي خبري په اجمالي بيان کښي چي دجزا او سزا سبب اعمال دي .دا خبره په قرآن مجيد کښي په بيلا بيلو عنوانونو سره ذکر شوي ده . چيري خو يي عمل شرط او ثمره يي جزا ګڼلي ده. څرنګه چي ارشاد دي:

"فَلَمَّا عَتَوْا عَنْ مَانُهُوْا عَنْهُ قُلْنَا لَهُمْ كُوْنُوْا قِرَدَةً خَاسِئِيْنَ" (الاعراف ۱۶۶)

يعني : [کله چي هغو خلکو سرکښي وکړه، دهغو شيانو څخه چي هغوي ورڅخه منع شوي وو، نو مونږ وَرته وويل: تاسي شي بيزوګان شړلي، رټلي سپک کړل شوي.]

له دي څخه په ښکاره ډول څرګندېږي چي، د سرکښي له کبله دغه سزا ورکړل شوه او ارشاد دي:

"فَلَمَّا اٰسَفُوْنَا إِنْتَقَمْنَا مِنْهُمْ" (الزخرف- ۵۵)

يعني: "کله چي هغوی مونږ خپه کړل نو مونږ ور څخه بدله واخيستله."

له دي څخه ښکاره کيږي چي دالله تعالى خپه کول سبب شو دغچ اخيستلو. ارشاد دی:

"إِنْ تَتَّقُوا اللّٰهَ يَجْعَلْ لَكُمْ فُرْقَانًا وَيُكَفِّرْ عَنْكُمْ سَيِّاٰتِكُمْ" (الانفال-۲۹)

يعني " كـــه چيري تاسي له الله تعـــالى څخه وويريږي نو الله تعالى به ستاسي لپاره فيصله وكړي او لري به كړي له تاسي څخه ګناهونه".

ارشاد دی:

"وَاَنْ لَـوِاسْتَـــقَامُوْاعَلَيَ الطَّرِيْقَةِ لَاَسْقَيْنٰهُمْ مَاءً غَدَقًـــا " (الجن-۱۶)

يعني: "كه چيري هغه خلک برابر شي په طريقه (سمي لاري داسلام) نو اورمرو به وڅښوپه دوي ډيري اوبه."

ارشاد دی:

"فَاِنْ تَابُوْا وَاَقَامُوْا الصَّلٰوةَ وَاٰتَوُا الزَّكٰوةَ فَاِخْوَانُكُمْ فِيُ الدِيْنِ." (التوبه-۱۱)

يعني: "كه هغه خلک توبه وباسي اولمونځ قايم كـــړي او زكـــوة ادا كړي نوهـــغوي په ديـــن كښي ستاسي وروڼه دي."

او چيري يې بيا "باء" سببيه راوړي ده لكه څرنګه چي فرمايي:

"ذٰالِكَ بِمَا قَدَّمَتْ اَيْدِيكُمْ " (ال عمران-۱۸۲)

يعني: " دغه سزا په سبب دهغو عملونو وه كوم چي ستاسي لاسونو وړاندي ليږلي دي"

او ارشاد دی:

(بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ) یعني دغه سزا په سبب د هغه کارو وه کوم چې تاسو کول. او فرمایي:

(ذٰالِكَ بِاَنَّهُمْ كَفَرُوْا بِاٰيٰتِنَا) یعني دغه په سبب ددي ؤ چې هغوي زمونږ دنښوانکار وکړ او کله بیا "فاء" سببیه راوړي څرنګه چې فرمایي:

"فَعَصَوْا رَسُوْلَ رَبِّهِمْ فَاَخَذَهُمْ" (الحاقه-١٠)

"یعني وي نیول دوي چې وکړه دوي نافرماني د خداي درسول نه." او ارشاد دي:

"فَكَذَّبُوْهُمَا فَكَانُوْا مِنَ الْمُهْلَكِيْنَ" (المؤمنون-٤٨)

یعني: "هغو خلکو دموسی او هارون(علیهما السلام) تکذیب وکړ.نو شول له هلاک کیدونکو څخه."

چیري بیا کلمه د(لولا) راوړي څرنګه چې فرمایي:

"فَلَوْلَا اَنَّهٗ كَانَ مِنَ الْمُسَبِّحِيْنَ لَلَبِثَ فِيْ بَطْنِهٖ اِلٰى يَوْمِ يُبْعَثُوْنَ" (الصفت-١٤٤)

یعني: "که یونس (علیه السلام) دتسبیح کوونکو څخه نه وای، نو به وای دقیامت تر ورځي دماهي په نس کښي."

له دي څخه څرګندیږي چې، دتسبیح له برکته دهغه بند څخه خلاصون ورکړ شو.

چیري یي بیاد (لو) لـــــفظ راوړي دي. څرنګه چي ارشاد دی:

"وَلَوْ اَنَّهُمْ فَعَلُوْا مَا يُوْعَظُوْنَ بِهٖ لَكَانَ خَيْرًا لَّهُمْ"

(انبیاء - ۶۶)

یعني: "که هغو کسانو کولای هغه کار دکوم چي ورته نصیحت کیده، نو به دهغوی لپاره ښه وای."

داواړه آیتونه روښانه اوڅرګند وایي چـــــي، په اعـــــمالو او جزا کښي خامـــــخا علاقه او اړیکي شـــــته.

****

****

*****

لـــــــــــومړی بـــاب

دګـــــــناهونو تاوان

په دي بيان کښې چې په دنيا کښې دګناه کولوڅه تاوان دی؟

هسي خو دا تاوانونه دومره ډير دي چې شمير يې نشي کيدلای، دلته لومړي دآيتونو اواحاديثو څخه اجمالاً ځيني اثارڅرګندوو. تر دې وروسته يې په څه تفصيل او ترتيب سره ليکو.

په قرآن مجيد کښې چې دنافرمانو خلګو لپاره په بيلابيلو ځايونو کښې کيسې او ورسره سزاګاني ذکر شوي دي. چاته معلوم نه دي.

هغه کوم شی دی چې ابليس يې دآسمان څخه ځمکې ته راوپرزوی؟

دا نافرماني ده چې دی يې ملعون وګرځوی. شکل يې ور وران کړ. باطن يې تباه شو. درحمت پرځای يې لعنت په برخه شو. د نزديکت پر ځای له الٰهي رحمت څخه لېرې والي ورکړ شو. دتسبيح او تقديس پر ځای يې کفر، شرک. دروغ او بې حيايي په بدله کښې ورکړل شول.

هغه کوم شی دی چې، دنوح علیه السلام په زمانه کښې يې دټولې ځمکې موجودات په طوفاني سيند کښې غرق کړل؟

هغه کوم شی دی چې، دهغه له کبله دعاد پرقوم تندباد مسلط کړای شو؟ تردي پورې چې په ځمکه باندې ووهل شول او مړه شول؟

هغه کوم شی دی چې دهغه له کبله دثمود پر قوم باندې هيبت ناکه زغ راغې چې ورځخه دهغو زړونه وچاودیدل اوټول مړه شول؟

هغه کوم شی دی چې ورځخه دلوط علیه السلام دقوم کلی يې تر آسمانه پورې پورته کړاو چپه يې راوغورځوي اودآسمان څخه يې ډبرې پرې واورولې؟

هغه کوم شی دی چې ورځخه دشعیب علیه السلام پرقوم باندې دسايوان په شکل د وريځې عذاب راغې او اورورځخه واوريدی.

هغه څه شی دی چې ورځخه دفرعون قوم دقلزم په درياب کښې غرق شو؟

هغه کوم شی دی چې ورځخه قارون په ځمکه ننه ايستل شو. اوترشايې ټول دکور سامان هم ورسره غرق کړای شو؟

هغه کوم شی دی چې یوځل یې پر بني اسرائیلو باندې داسې قوم واکمن کړ کوم چې سخت جنګ کوونکي وو. هغوی ددوی په کورونو ننوتل او هغوی یې تباه او برباد کړل.

دوهم ځل یې دهغوي مخالفین پرې غالب کړل او دهغوي جوړې شوې کار خانې یې ورورانې کړلې؟

او هغه کوم شی وو چې همدا بني اسرائیل یې په ډول ډول غمونو او بلاوو اخته کړل. کله به ووژل شول، کله به قید شول، کله به یې کورونه تالا شول، کله به ظالم ورباندې واکمن شو، کله به بیا جلاوطن کړل شول؟

هغه شی چې ذغه اثرات یې بنکاره شول که نافرمانې نه وه نو بیا څه شی وه؟

دا پیښې یې په بیلا بیلو ځایونو کښې ذکر کړې او په ډیرو لنډو الفاظو کښې ددې سبب څرګند شوی دی.

"وَمَا كَانَ اللّٰهُ لِيَظْلِمَهُمْ وَلٰكِنْ كَانُوْا اَنْفُسَهُمْ يَظْلِمُوْنَ."
(العنکبوت-۴۰)

"یعني الله تعالی داسې نه دی چې، پر هغوي ظلم کوي، لیکن هغوی پرخپلو ځانونو ظلم کوي."

وګورې هغو خلګو ته چې په سبب د دې ګناهونو يې څه خرابي وزغملې.

امام احمد (رحمه الله تعالى) فرمايي:

[کله چې قبرس فتح شو، جبيربن نضير رضي الله عنه، ابوالدرداء رضي الله عنه وليد چې يوازې ناست د ى او ژاړي. هغه وايي چې ما عرض وکړ:

"اې ابوالدرداء رضي الله عنه! په داسې مبارکه ورځ کښې ژړا دځه دپاره ده چې، الله تعالى پکښې اسلام او د اسلام خاوند انو ته عزت ورکړى دى؟"

هغه ځواب راکړ. " اې جبيره! افسوس دى، ته نه پوهيږې. کله چې يو قوم د الله تعالى حکم ضايع کړي، هغه د الله تعالى په وړاندې څنګه ذليله او خوارشي. وګوره: چيرې خو دغه قوم واکمن وو، د خداى حکم يې پريښود. ذليله او خوار شول کوم چې ته يې اوس ګورې!"]

په مسند احمد کښې د رسول الله (صلي الله عليه وسلم) ارشاد دى:

" اِنَّ الرَّجُلَ لَيُحْرَمُ الرِّزْقَ بِالذَّنْبِ يُصِيْبُهُ"

"يعني انسان د هغه ګناه په سبب چې کوي يې د رزق څخه بې برخې کيږي."

په ابن ماجه کښي، عبدالله بن عمر(رضی الله عنهما) درسول اکرم ﷺ څخه روایت کوي چي فرمایي:

"اي مهاجرینو ! پنځه شیان داسي دي که چیري تاسي پکښي بوخت شي. نوبه په غټو افتونو کښي مبتلا شي.

یو فحاشي، بدکاري چي په کوم قوم کښي په علانیه ډول خپره شي نو به په هغوي کښي نوي ، نوي ناروغي پیدا شي. داسي چي مخکښي به هیڅکله چانه وي اوریدلي.

کوم خلک چي په تول اوترازو کښي کمی کوي پر هغوي به دوچکالی تکلیف راشي اوظالم واکمن به وربانديي مسلط شي.

کوم قوم چي زکوة نه ورکوي، پرهغوي به باران ودرول شي. که حیوانات نه وای یو خاڅکي به هم نه وریدی(څرنګه چي حیوانات دالله مخلوقات اوبي ګناه دي د هغوي لپاره به څه باران کیږي.)

اوکوم څوک چي دوعدي مخالفت کوي، پر هغوي به نورقومونه مسلط شي اودهغوي مال او سامان به اخلي.

اوکوم چي دالله(جَلَّ جَلَالُهُ) د قانون په خلاف حکم

چلوي په هغوي کښي به کورنۍ جګړي ډيري وي."

ابن ابئ الدنيا روايت کوي چې:

" يوچا دحضرت عايشه صديقه (رضی الله عنها) څخه دزلزلې دسبب پوښتنه وکړه.

هغې وفرمايل: کله چې خلګ زنا ديوه رواکار په شان په بيباکۍ تر سره کوي، شراب څښي او ډوهل وهي. الله تعالی ته په آسمان کښي غيرت ورشي، ځمکې ته حکم وکړي چې سره ويې ښوروي."

عمر بن عبدالعزيز (رحمه الله تعالی) به دښار بيلا، بيلو مقاماتو ته پيغامونه ليږل چې، مضمون يې پدې ډول دی:

ترحمد اوصلوة وروسته. اصلي خبره داده چې، د ځمکې زلزله، دالهي سرزنش يوه نښه ده. ما وتولو ښارونو ته ليکنې ليږلي دي چې. دفلانۍ مياشتې په فلاني تاريخ باندي. ميدان ته ددعا اوتضرع (عاجزي) لپاره ووزي. چاسره چې څه مال وي هغه دي خيرات کړي. دالله تعالی ارشاد دی:

"قَدْ اَفْلَحَ مَنْ تَزَكّٰى ط وَذَكَرَ اسْمَ رَبِّهٖ فَصَلّٰى" (اعلی ۱۴-۱۵)

"په تحقيق بری موندلی په مراد رسيدلي دي هغه څوک چې پاک شوي دي (په ايمان سره. له معاصيو)

اویاد یي کړ نوم درب خپل (په تکبیر سره) بیایي لمونځ وکړ (چي نبښه داسلام ده) او دعا غواړي څنګه چي آدم علیه السلام ویلي وو:

"رَبَّنَا ظَلَمْنَا اَنْفُسَنَا وَاِنْ لَّمْ تَغْفِرْلَنَا وَتَرْحَمْنَا لَنَكُوْنَنَّ مِنَ الْخٰسِرِيْنَ" (الاعراف-۲۳)

اوځرنګه چي نوح علیه السلام ویلي وو:

"وَاِلَّا تَغْفِرْلِيْ وَتَرْحَمْنِيْ اَكُنْ مِّنَ الْخٰسِرِيْنَ" (هود-۴۷)

او ځرنګه چي یونس (علیه السلام) دعا کړي وه:

"لَااِلٰهَ اِلَّا اَنْتَ سُبْحَانَكَ اِنِّيْ كُنْتُ مِنَ الظّٰلِمِيْنَ"

(انبیاء-۸۷)

ابن ابي الدنیا روایت کوي چي، رسول الله ﷺ فرمایي:

"کله چي الله عزوجل دبندګانو څخه غچ اخلي، نو کوچنیان یي دیر مري اوښځي یي وچیږي."

مالک بن دینار فرمایي: مادحکمت په کتابونو کښي لوستلي دي:

الله تعالي فرمایي: "زه الله یم دپاچاهانو مالک یم دهغوي زړونه زما په لاس کښي دي. کوم پاچاهان چي زما نافرماني کوي. پرهغه نافرمانه باندي عذاب مقرروم. تاسي پاچاهانو ته بد مه وایاست اوماته رجوع

وکړي. زه به هغوي درته نرم کړم."

امام احمد (رحمه الله) دوهب (رحمه الله) څخه نقل کوي چې الله تعالى، بني اسرائيلو ته وفرمايل:

کله چې زما اطاعت کيږي نو زه راضي يم اوچې زه راضي شم نوبرکت کوم اوزما دبرکت کوم پاي نشته اوچې زما اطاعت نه کيږي نو زه په غضب کيږم، لعنت کوم او زما دلعنت کولو اثر تراوو پشتو پوري دی."

امام احمد (رحمه الله تعالى) دامام وکيع (رحمه الله) څخه روايت کوي:

" کله چې حضرت عائشه (رضى الله تعالى عنها) حضرت معاويه ﷺ ته مکتوب وليکي چې، کله بنده دالله نافرماني کوي نو دهغه تعريف کوونکي خپله په هغه بدوايي."

داپه ډيرو احاديثو اواثارو کښې دګناه کولو زيانونه ووچې په دنيا کښې پيښيږي، ذکر شول.

اوس ځينې تاوانونه په تفصيل اوترتيب سره ليکل کيږي.

د آساني لپاره مناسبه ده چې، دغه مضمون په فصلونو کښې راشي.

لومړی فصل

دګناهونو یو تاثیر دادی چې انسان له علم نه محرومه کیږي، ولي چې علم یو باطني نور دی او په ګناه سره باطني نور مړ کیږي.

امام مالک (رحمه الله تعالی) امام شافعي (رحمه الله تعالی) ته وصیت کړي وو:

"اِنِّيْ اَرَیَ اللهَ تَعَالٰی قَدْاَلْقٰی عَلٰی قَلْبِکَ نُوْرًا فَلَا تُطْفِئْهُ بِظُلْمَةِ الْمَعْصِيَّةِ"

"زه وینم چې الله تعالی ستا په زړه کښې یو نور اینبسی دی نو ته یې دګناه په تاریکي سره مه وژنه"

دوهم فصل

دګناه یو تاوان په دنیا کښې دادی چې رزق کمیږي. ددې مضمون په حدیث کښې ذکر شوی دی.

دریم فصل

یو تاوان دادی چې ګنهګار د الله تعالی څخه یو ډول په وحشت کښې وي او دا یوه داسې خبره ده چې که په چا کښې لږ دډیندارۍ صلاحیت وي فهمولای

يي شي.

يوه سړي يوه عارف ته دوحشت شکايت وکړ هغه وفرمايل:

"اِذَاکُنْتَ قَدْاَوْحَشَتَکَ الذُّنُوْبُ،فَدَعْهَااِذَاشِئْتَ وَاسْتَأْنِسِ."

"ته ګناهونو په وحشت او ويره کښې اچولی يي. ګناه کول پريږده نو به وحشت ختم شي انس او محبت به درته حاصل شي."

څلورم فصل

يوزيان يي دادی چې، دګناه کولو څخه دانسانانو څخه هم ويره کيږي. په ځانګړي توګه بيا دصالحو انسانانو څخه، دهغوی سره يي زړه نه غواړي او څومره چې وحشت يي زياتيږي له هغوی څخه ليري او دهغوي له برکاتو څخه محرومه اوبي برخي وي.

ديوه بزرګ قول دی:

"کله چې ګناه راڅخه وشي نوددي اثر زه دخپلي بنځي اوڅاروي په اخلاقو کښې وينم چې، هغوی زما بشپړ اطاعت نه کوي."

پنځم فصل

يوزيان يي دادی چي، ګناهکار ته په کارکولو کښې ډير کړاوونه پښيږي. لکه څرنګه چي دتقوٰی په غوره کولو سره ډکامیابی لاري موندل کيږي. دغه ډول په تقوٰی نه کولو سره، دکامیابي لاري بنديږي. قال الله تعالی:

"وَمَنْ يَتَّقِ اللّٰهَ يَجْعَلْ لَّهُ مَخْرَجاً" (الطلاق-٢)

شپږم فصل

يوزيان يي دادي چي په زړه کښې ظلمت وي. که لږ هم وزړه ته انسان متوجه شي، نوددغه ظلمت احساس به کوي اوددي له سببه يو ډول حيرانتيا ورته پيداکيږي چي ورڅخه انسان بياپه بدعت ، ګمراهي اوجهالت کښې بوخت شي اوددغه ظلمت اثر له زړه څخه وسترګو ته راځي او يا پر مخ باندي، چې هر سړی

---

(١) او هغه څوک چي ويريږي له الله نه، ځان ساتي له معاصيو، و به ګرځوي ده ته يو ځای دوتلو (له دنيوي او اخروي غمونو نه.)

دغه تورو الی لیدلای شي. فاسق که څومره ښائسته وي خو پرمخ باندي يې دفسق اثر اوبي خوندي غـــوندي کیفیت خامخالیدل کیږي. عبدالله بن عباس رضي الله عنه فرمایي:

"دنیک کارکولوسره پر مخ باندي تازګي، په زړه کښي نور، په زرق کښي پراختیا، په بدن کښي قوت او دخلکو په زړونو کښي ورته مینه پیدا کیږي.

دګناه کولوڅخه مخ بي خونده، په قبراوزړه کښي تررمي اوتاریکی، په بدن کښي سستي، په رزق کي بي برکتي اودخلکو په زړونو کي ورته بغض وي.

اووم فـــصـــل

یوتاوان يې دادی چي دګناه له کبله، په زړه او صورت کښي کمزوري پیدا کیږي. دزړه کمزوري خو ښکاره خبره ده چي دخیر دکارونو څخه همت په کمیدو، کمیدوسره بالکل ختم شي.

پاته شوه دبدن کمزوري، نو بدن دزړه تابع دی چي دغه کمزوري وي نوهغه به هم ضعیف وي. وګوري دفارس اوروم کافران څومره غټ اندامونه يې وو. خود اصحـــــابانو رضي الله عنهم په مقابله کښي يې استقامت ونکړ.

اتم فصل

یوزیان یي دادی چي، دعبادت څخه محرومه کیږي. نن یو طاعت پاته شو. سبا بل پریښودل شو اوبله ورځ بل پریښودل شو. په دي ډول سلسله سره د ټولو صالح اعمالو څخه دګناه له امله بي برخي کیږي. لکه څرنګه چي یوڅوک خوندوره ډوډۍ وخوري چي ورڅخه ناروغي پیداشي او دزرګونو خوندورو خوړو څخه محرومه شي.

نهم فصل

یو زیان یي دادي چي، دګناه څخه عمر کمیږي او برکت یي ختمیږي. ولي چي دنیک کارله کولوڅخه، دعمرزیاتوب په صحیح حدیث سره ثابت دی. نو دبد عمل څخه دعمر کمیدل بریښي. اودغه شک کول ډیر ضعیف دی چي عمرخومقدر دی. هغه څنګه کمیدلاي اویازیاتیدلاي شي؟ ولي چي دعمرڅخه تخصیص دی. داټول شیان مقدر دي. په امیري، غریبي، روغتیا اومرض ټولوکښي، دا شک کیدلاي شي. خو بیا هم په دغوکارونو کښي له اسبابو سره په ارتباط درلودلو تدبیرپه کار اچول کیږي. همدا حالت دعمر هم دی.

لسم فصل

یو زیان یي دادي چي، یوه ګناه دبلي ګناه سبب وي. هغه بیا ددریمي، همدا ډول دګناهونو زیاتوب کیږي، تردي چي عاصي دګناهونو په درياب کښي ډوب شي.

دوهم داچي په کولوسره دهغه عادت شي چي پریښودل یي بیاډیرګران وي. بیا یي له دي امله کوي چي په نه کولوسره په تکلیف کیږي اوبیاپه دي کمبخت کښي لطف او خوند هم پاته نشي.

یوولسم فصل

یو زیان یي دادي چي، په ګناه کولو سره د توبي اراده کمزوري کیږي. تردي چي بلکل یي دتوبي کولوتوفیق نه کیږي او په دغه حالت کښي مړ شي.

دوولسم فصل

یو زیان یي دادی چي، په څوورځو کښي دګناه بدوالی له زړه څخه وزي. ګناه کول بدنه ګڼي او نه هم ددي پروا کوي چي یوځوک یي وینې. بلکي په خپله په فخرسره دګناه کولو بیان کوي. دا شان سړی، دالله تعالی دعفوي څخه لري کیږي، خو څرنګه چي حضرت

محمد ﷺ فرمايي:

"كُلُّ اُمَّتِيْ مُعَافِيْ اِلاَّ الْمُجَاهِرِيْنَ وَاِنَّ مِنَ الْاِجْهَارِاَنْ يَسْتُرَ اللّٰهُ عَلَى الْعَبْدِثُمَّ يُصْبِحُ يُفْضَحُ نَفْسَهُ وَيَقُوْلُ يَا فُلَانُ يَوْماً كَذَا وَكَذَا وَكَذَا فَتَهْتِكَ نَفْسَهُ وَقَدْبَاتَ يَسْتُرُ رَبَّهُ."

"مطلب دا چي دټولو لپاره دمعافي اميد شته. خو کوم خلک چي په ښکاره ګناه کوي اوداهم ښکاره ګناه کول دي چي، الله تعالى يي پرده کړي وي، ليکن سهار يي خپل ځان رسواکړ چي په فلانى ورځ مي فلانى کار کړى و. په خپله يي ځان لوڅ کړ. حال داچي الله تعالى يي پرده کړي وه." اوکله بيا د ګناه بد والى دومره لږ شي چي. نوبت تر کفره پوري ورسيږي. له دي امله ديوبزرګ قول دى: "تاسي دګناهونو څخه ويريږي خو، ماته دکفر ويره شته."

ديارلسم فصل

يو زيان يي دادى چي، هره ګناه دالله(جلَّ جَلَالُهُ) له دښمنانو څخه ديو چانه، ديوچا ميراث ده. نو ګواکي، دغه ګناه کوونکي دهغه ملاعينو وارث ګرځي. مثلاً:

لواطت (بدفعلي) دلوط عليه السلام دقوم ميراث دى.

لږ تلل(په وزن کښي کمښت) دشعيب عليه السلام دقوم ميراث دى.

تکبر او فساد کول. د فرعون او د هغه د قوم میراث دی. کبر او لویي د هود علیه السلام د قوم وراثت دی.
نو د غه ګنهګار ځان د هغو کسانو په هیئت جوړ کړی دی.
په مسند احمد کښي عبدالله بن عمر رضی الله عنه روایت کوي چي: حضرت رسول الله ﷺ فرمایي:

"مَنْ تَشَبَّهَ بِقَوْمٍ فَهُوَ مِنْهُمْ"

"کوم څوک چي له یوقوم سره په هئیت کښي مشابهت کوي، هغه له هغوي څخه شمیرل کیږي."

څوارلسم فصل

یو زیان یي دادی چي، دګناه کولو څخه سړی د الله تعالیٰ په حضور کښي خوار اوبي قدره کیږي. کله چي د خالق په نزد خوار او ذلیل شي په مخلوق کي یي هم عزت نه پاتیږي. د الله تعالی ارشاد دی:

"وَمَنْ يُهِنِ اللّٰهُ فَمَا لَهٗ مِنْ مُكْرِمٍ"

عزیزیکه از در گهش سر بتافت
بهر در که شد هیچ عزت نیافت

"هو: کوم بنده چي دده له دربار څخه سرغړونه وکړه بیا چي دهرچا ودروازي ته ورغی هیڅ عزت یي ونه شو."

که څه هم خلک دده دظلم او شرارت له امله دده احترام کـــــوي. لیکن په یوه زړه کښې یې هم عزت پاته نـــوي.

پنځلسم فصـــــل

یو زیان یې دادی چې، دګناه نحوست لکه څرنګه چې په خپله ګناه کوونکي ته رسیږي، دغه ډول ددي تاوان نورومخلوقاتوته هم رسیږي.هغوي واړه پرده لعنت وایي. دګناه سزاخوجلاده. دا لعنت نورپرهغه زیاتوب دی.

مجاهد(رحمه الله تعالی) فرمایي: " حیوانات پرګناه کوونکوباندي لعنت کوي.کله چې وچکالي ډیره شي او باران ونه اوري نو وایي چې دانسانانو دګناهونو نحوست دی. "

شپاړسم فصـــــل

یو زیان یې دادی چې، په ګناه کولو سره په عقل کې لږوالی او فساد راځي. ځکه ،عقل یو نوراني شی دی،دګناه په ککړتوب سره په دي کښې لږوالی راځي. بلکه خپله ګناه کول، دکم عقلي دلیل دی.

که یې عقل پرځاي واي نو،په داسي حالت کښې چیري ګناه کیداي شي چې، دغه سړی دالله تعالی په

قدرت کښي، دهغه په پاچاهي کښي، اوسيږي ،هغه وينې، دهغه ملائکي پر ي شاهداني هم دي. قرآن مجيد يي منع کوي، ايمان يې منع کوي، (راتلونکي) مرګ يي منع کوي، دوزخ يي منع کوي.

دګناه په کولوکښي به يي دومره خوشحالي او خوند په نصيب نه وي لکه. څومره چي ددنيا او اخرت ګټي يي له لاسه ورکړي دي. نوسالم عقل لرونکي انسان ددي ټولوخبرو سره، سره ګناه کولاي شي؟

اولسم فصل

يوستر زيان يي دادی چي، په ګناه کولوسره دا سړی، د رسول الله ﷺ په لعنت کښي داخليږي. ځکه چي ده مبارک ﷺ پر ډيرو ګناهونولعنت ويلي دی. اوکومي ګناوي چي تردغوګناهونو غټي دي، هغه خو په اولي طريقي سره دلعنت مستحق دي.

مثلاً لعنت يي کړي دی په هغي ښځي باندي چي دبل چاوينښتان دخپلو وينښتانو سره ومښلوي اوږده يي کړي او چي دنورو څخه دغه کارواخلي.

لعنت يي کړی دی پرسوداخيستونکي او ورکوونکي باندي اودسود پرکاتب اوشاهد باندي .اولعنت يي کړي دی پرحلاله کوونکي اودکوم

چا لپاره چي حلاله شوي وي. يعني په نکاح کښي دغه شرط وي.

لعنت يي کړی دی پرشراب څښونکي اوپرهغه چاچي په بل يي څښي اوپرجوړوونکي اوپلورونکي اوپـــــيرودونکي اوپربـــيه اينښودونکي اوپربار وړونکي اوپر هغه چاچي دهغه لپاره باريږي. اولعنت يي کړي دی پر هغه زوي باندي چي خپل پلارته بد ووايي. اولعنت يي کړی دی پرهغونارينه وچي د ښځو سره مشابهت وکړي. اوپرهغوښځوچي دنارينه و سره تشابه وکړي. او لعنت يي کړی دی پر هغه سړي چي دالله(جَلَّ جَلَالُهُ) څخه پرته دبل چاپرنامه ذبح وکړي. او لعنت يي کړی دی پرهغه چاچي په دين کي بدعت کوي. اويا داسي شخص ته پناه ورکړي. اولعنت يي کړی دی پرتصوير جوړوونکي اولعنت يي کړي دی په داسي سړي باندي چي دلوطﷺ دقوم ناوړه عمل وکړي. اولعنت يي کړی دی پر هغه چاچي دځارويو سره ناروا کار وکړي. او لعنت يي کړي دی پرهغه سړي باندي چي دځارويو پرمخ باندي داغ ولګوي. اولعنت يي کړي دی پرهغه چاچي يو مسلمان ته تاوان ورسوي، يا له هغه سره، چم دوکه وکړي اولعنت يي کړي دی پر هغوښځو

باندي چي وقبرونو ته ځي اوپرهغه کسانو چي وقبرونو ته سجده کوي، يا څراغ پري ولګوي. او لعنت يي کړي دی پر هغه شخص باندي چي يوه ښځه دهغه وخاوند، يا غلام وخپل بادار ته وپاروي. او لعنت يي کړي دی پر هغه سړي باندي چي له ښځي سره لواطت وکړي.

اوارشاد فرمايي: "کومه ښځه چي دخپل خاوند څخه خپه شي اوشپه بيله تيره کړي، ترسهاره به ملائکي په هغي ښځي باندي لعنت وايي. اولعنت يي کړي دی پرهغه چاباندي چي خپل پلارپريږدي اوله بل چاسره نسب وټړي. او لعنت يي کړي دی پرهغه سړي باندي چي يومسلمان ته په اسلحي سره اشاره وکړي. او لعنت يي کړي دی پر هغه سړي باندي چي اصحابانو ﷺ ته بدووايي.

لعنت يي کړي دی الله تعالیٰ پرهغه سړي باندي چي په ځمکه کښي فساد خوروي او قطع رحمي وکړي. او الله تعالی يارسول الله ته ايذا ورسوي. اولعنت يي کړي دی پرهغه چا چي دالله حکمونه پټ کړي او لعنت يي کړي دی پر هغه چاچي پرپاکوښځوباندي د زنا تهمت ولګوي. او لعنت يي کړي دی پرهغه سړي باندي چي کافران د مسلمانانوپه مقابل کښي پرحق وګڼي.

رسول ﷺ لعنت کړي دی پرهغه سړي چې رشوت ورکوي اویایي اخلي. اوپر ډیروکارونو یې لعنت کړي دی.

که په ګناه کښې نور زیان نه وي نو، داځله لږ خبره ده چې ګناهکار، دالله تعالی اودرسول الله (صَلَّى اللهُ عليه وَسَلَّم) دلعنت وړ وګرځي. (نَعُوْذُ بِاللهِ)

اتلسم فصل

یو زیان یې دادی چې، دګناه په کولوسره د ملائکو ددعا څخه بې برخي کیږي. دالله تعالی ارشاد دي:

"اَلَّذِيْنَ يَحْمِلُوْنَ الْعَرْشَ وَمَنْ حَوْلَهُ يُسَبِّحُوْنَ بِحَمْدِ رَبِّهِمْ وَيُؤْمِنُوْنَ بِهٖ وَيَسْتَغْفِرُوْنَ لِلَّذِيْنَ آمَنُوْا رَبَّنَا وَسِعْتَ كُلَّ شَيْئٍ رَحْمَةً وَعِلْمًا فَاغْفِرْ لِلَّذِيْنَ تَابُوْا وَاتَّبَعُوْا سَبِيْلَكَ وَقِهِمْ عَذَابَ الْجَحِيْمِ" (المؤمن-٧)

(دمطلب لنډیز دادي چې، کومو ملائکوعرش اوچت کړي اوکومي چې دعرش شاوخوا چاپیره دي. هغوی دالله تعالی تسبیح اوحمد وایي اوپرالله تعالی یقین لري اودمؤمنانولپاره دمغفرت دعا کوي چې:

یاالله! ستارحمت اوعلم ډیرپراخ دی. ددې کسانو بخښنه وکړي کوم چې درته رجوع کوي اوستا د

حکمونو اطاعت کوي. داسي کسان ددوزخ له عذاب څخه وژغوره.)

وګوري له دي آیت څخه ښکاره څرګنديږي چي ملائکي دهغو مؤمنانو لپاره دمغفرت دعاکوي. کوم چي دالله تعالی پرلاره روان دي. هرکله چي ګناه يي وکړه نويي هغه لاره پريښودله، بياد دي چيري مستحق شو؟

نولسم فصل

يوزيان يي دادی چي، له ګناه کولو څخه ډول، ډول خرابي پرځمکه کښي پيداکيږي اوبه، هوا، کښت او ميوه هرڅه خرابيږي.

دالله تعالی ارشاد دی:

"ظَهَرَ الْفَسَادُ فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ بِمَا كَسَبَتْ أَيْدِي النَّاسِ."
(الروم- ۴۱)

"يعني فساد (خرابي) خپره شوه پروچه اوسند کښي په سبب دهغو عملونو چي دخلګولاسونو کړي دي."

امام احمد (رحمه الله تعالی) دیوه حدیث په ترڅ کښي فرمايي:

"مادښوا ميه په يوه خزانه کښي دغنم دانه د خرما ديوي داني برابر ليدلي او وربانديي ليکلي و چي دغه

دعدل په زمانه کښې پيدا شوي ده. د ځينو صحرايي خلګو وينا ده چې، دمخکنې زماني ميوي داوسنې وخت ترميوو غټې وي.

کله چې دحضرت عيسى عليه السلام وخت راشي په هغه وخت کښې به دزراعت ډيرښت اوبرکتونه پيدا شي.

په يوه صحيح حديث کښې راغلي دي چې، يوانار به ديوزيات شمـــــيرخلګو لپاره کفايت وکړي. اودهغـــــه په سيوري کښې به کښيناستلي شي.

دانګور وانښکي به دومره غټ وي چې پر يوه اوښ به بار وي.

له دي څخه معلوميږي چې په اوسنې وخت کښې بې برکتي، زمونږ دخطا او ګناه اثر دی.

شلم فصـــــل

يو زيان يې دادی چې، دګناه کولوڅخه حيا او غيرت له منځه ځي.

کله چې حياپاته نشي نوبيابه هرڅه کوي اوداکوم لږتاوان دی؟

ددې ســـړي نورکـــوم اعتبار نشته.

يوويشتم فصل

يوزيان يي دادی چي. دګناه کولوڅخه دالله تعالی عظمت دسړي دزړه څخه وزي. ولي چي که الٰهي عظمت د کوم چا په زړه کښي وي، نوپر مخالفت يي قدرت چيري کمزلاي شي؟ کله چي په زړه کښي دالله عظمت نه وي، دالله تعالی په نظر کښي بيا د هغه عزت نه وي. بيا دا سړی د نورو خلګو په نظر هم ذليل او خوار وي.

دوه ويشتم فصل

يوزيان يي دادی چي، دګناه په کولو سره له نعمتونو څخه بي برخي کيږي. دآفتونو او غمونو ډيرښت وي.

د حضرت علي رضي الله عنه ارشاد دی: "هيڅ يو آفت نه نازليږي مګر. دګناه له سببه اونه ليري کيږي يو غم مګر دتوبي له سببه."

دالله تعالیٰ ارشاد دی:

"وَمآ اَصَابَكُم مِن مُصِيبَةٍ فَبِمَا كَسَبَت اَيدِيكُم وَيَعفُوا عَن كَثِيرٍ." (الشوری-۳۰)

"يعني کوم غم چي پر تاسي راځي، هغه ستاسي دعملونو په سبب دی اوډيري خبري الله تعالی معافوي."

ارشاد دی:

"ذٰلِکَ بِاَنَّ اللّٰہَ لَمْ یَکُ مُغَیِّرًا نِعْمَۃً اَنْعَمَھَا عَلٰی قَوْمٍ حَتّٰی یُغَیِّرُوْا مَا بِاَنْفُسِھِمْ." (الانفال-۵۳)

"یعنی دا په دی وجه چی الله تعالی کله دا نعمت بدلوی کوم چی یوقوم ته یی ورکړی، تردی چی هغه کسان خپل ذاتی حالات بدل کړی."

له دی نه څرګنديږي چي دګناه په کولو سره نعمتونه ختميږي. ۱

درويشتم فصل

یو زیان یي دادی چي، دګناه کولوڅخه دمدح او شرافت القاب سلبیږي. دمذمت اوذلت خطاب ورکول کیږي. مثلا په ښه او نیک کار کولو سره دغه القاب ورکول کیږي:

مؤمن(ایمان راوړونکی) بر(نیک) مطیع(اطاعت کوونکي) منیب (الله ته رجوع کوونکي) ولي، متواضع، ورع (پرهیزګاري) خائف(دالله څخه ویریدونکي) اواب (الله ته رجوع

---

۱ څوک دي دانه وایي چي مونږ خو ګناه ګاران په ډیر عیش او عشرت کښي ونو ولي چي دغه استدارج دی حي دانور هم خطرناکه دي لکه یو شاګرد چی سبق نه یاد وي او استاد یي ضدا سزا نه ورکوي. که یي بله ورځ سبق یاد نه و نو به بوځاي سزا ورکړي ۱۲منه

کونکي)طیب (ښه) رضي (خوشحاله) تائب (توبه کوونکي)حامد(حمدویونکي)راکع(رکوع کووونکي) ساجد(سجده کوونکي)مصلح(صلح کوونکي). عابد (عبادت کوونکي) مسلم(مسلمان)قانت(عاجزي کوونکي)صادق(رښتیاویونکي)صابر(صبر کووونکي) خاشع (عاجزه) متصدق (رښتیاګویه) عفیف (پاک لمنی) ذاکر(ذکر کوونکي)او داسي نور.

کله چي بدعمل وکړي نو دغه خطاب ورته کیږي.

فاجر(بد،ناوړه)فاسق(فسق کونکی)عاصي(ګناه کار) مسیئ(ناوړه عمل کوونکی) مفسد (فسادخوروونکی) خبیث(خباثت کوونکي) مسخوط (غضب کړل شوي) زاني(زنا کوونکي) سارق (غلاکوونکي)قاتل(قتل کوونکي یاوژونکي) کاذب (دروغجن)خائن(خیانت کوونکي) لوطي(لواطت کوونکي) غادر(خائن)قاطع رحم(صله رحم شلوونکي) متکبر(لویي کوونکي)ظالم(ظلم کونکی) ملعون (لعنت کړه شوي)جاهل(ناپوه) او داسي نور.

څلور ويشتم فصل

يو تاوان يي دادی چي. دګناه کولو څخه شيطانان پري مسلط کيږي. ولي چي اطاعت يوه الٰهي کلاده چي په دي سره دی، ددښمنانو له غلبي څخه ساتل کيږي. کله چي دکلا څخه ووځي، دښمنان به يي ونيسي. بيا چي شيطانان څرنګه غواړي په هغه کښي تصرف کوي. دهغه زړه، ژبه لاس او پښي، سترګي او غوږونه، واړه اندامونه په ګناهونو کښي غرقوي.

پنځه ويشتم فصل

يو تاوان يي دادی چي، دګناه کولوخخه دزړه اطمينان ختميږي، همیشه غمجن وي، هروخت په ويره کښي وي چي څوک په خبر نه شي.

په عزت کښي يي فرق رانشي، څوک بدله وانخلي.

زما په فکر د:

"مَعِيشَةً ضَنْكًا"

په معنی دتنګي دغه معنی ده.

شپږ ویشتم فصل

یو تاوان خو یي دادی چي، په ډیرګناه کولوسره هغه دده په زړه کي ځای ونیسي تردي چي دمرګ په وخت، کلمه هم نشي ویلای، بلکه کوم کارونه چي په ژوندیي کي غالب وو. هغه دغه وخت هم ځینې صادریږي.

یوتاجر دخپل یو دوست کیسه کوله چي دمرګ په وخت کي یي دکلمي تلقین ورته کوی او هغه ویل چي، دغه ټوکر ډیر ښه دی. دغه پلورونکي ښه معامله کړی. اخرپدغه حال کي مړ شو.

دیوسوال ګرخبره وه چي هغه ویل: دالله لپاره یوه پیسه خیرات راکړی. په همدي حال کي مړ شو.

همدا ډول په یوه سړي دزنکدن په وخت کي دکلمه ویلو هڅي کیدلي نو ده وویل: آه! آه نه یي شم ویلای اودهغه ډیرحالات مونږ ته معلوم هم نه و خداي خبر چي څه وربانديي تیریدل.

دالله جَلَّ جَلَالُهُ نه مرسته غوښتل په کار دي.

اوه ويشتم فصل

يو تاوان يي دادي چي په ګناه کولو، دالله تعالى درحمت څخه ناامیدي پیدا کیږي. له دي کبله توبه هم نه کاږي اوبي توبي مړ شي.

يو سړي ته دمرګ په وخت وويل شول چي، لاَ اِلٰهَ اِلاَّ الله ووايه. هغه غزلي وويلي. تاتا، تن تن او ويي ويل چي کومه کلمه راباندي واياست، دهغي څخه ماته څه فايده؟ هيڅ ګناه خو مي پر ايښي نده، کلمه يي ونه ويله او رخصت شو.

يو بل سړي ته يي دکلمي وويل. هغه ويل:

له دي کلمي څخه څه فايده؟

ما لمونځ ندی کړی هغه هم دغه شان مړ شو.

يو بل چاته يي دکلمي تلقين کولی نو هغه ويل:

زه تر اوسه ددي منکريم او مړ شو.

يوه بيا داويل چي يو څوک زما ژبه نيسي.

اَللّٰهُمَّ اَحْفَظْنَا.

(اي الله مور وساتي.)

آمدم برسر مطلب

دا خودنيوي زيانونه دي چي دگناه څخه پښيمانۍ او پرته له دي څه ډيرظاهري اوباطني زيانونه دي چي په قرآن اوحديث کښي دفکر کولو او په خپل زړه کښي دسوچ کولو نه ژر پري پوهيږي.

په آخرت کي چي کوم زيانونه دي. هغه له دي څخه ښکاره دي. اوس به ذکرشي. انشاءالله تعالى.

هوښيار شخص هيڅکله دانه خوښوي چي دلږ دروغو دخوند لپاره دومره دغمونو اوتکليفونو دروند پيټي پرخپلو اوږو واخلي.

په ورځني معاملاتو کي چي دکوم شي مفاسد او تاوانونه غالب وي، انسان هغه ته نژدي هم نه ورځي. دا کړنه دګناهونه سره په کارده.

الله تعالى دي ټول مسلمانان دخپلي نافرماني څخه وژغوري.

آمين ثم آمين.

د تعليم الاسلام ويب پاڼه:
www.taleemulislam-radio.com

دوهم بـــــاب

په دي بيان کي چي په اطاعت، عبادت او صالح اعمالو کښې دنيوي څه ګټې دي؟ پرته له هغو ګټو نه چي په تيرو ويناو کي ضمناً يا التزاماً ذکر شوي دي. په دي کې څو فصلونه دي:

لومړي فصـــل

په دي بيان کي چي په اطاعت کولو سره په رزق کي زياتوب راځي:

قال الله تعالى: "وَلَوْ اَنَّهُمْ اَقَامُوا التَّوْرَاةَ وَالْاِنْجِيْلَ وَمَا اُنْزِلَ اِلَيْهِمْ مِنْ رَّبِّهِمْ لَاَكَلُوْا مِنْ فَوْقِهِمْ وَمِنْ تَحْتِ اَرْجُلِهِمْ." (المائده-٦٦)

الله تعالي فرمايي: "که چيري هغو خلکو په تورات او انجيل عمل کړی واى او دغه کوم چي اوس نازل شوي و هغوي ته، دهغوي درب له لوري، يعني مطلب دادى چي په هغه يي بشپړ عمل کړی واى.

په تورات او انجيل عمل کول دادي چي، په حضرت رسول اکرم ﷺ باندي، دتورات اودانجيل دوعدي سره سم يي ايمان راوړي واى اود ده متابعت يي کړی

وای .که یي داسي کړي وای نوبه هغوي دلوړي او ښکته څخه رزق خوړلای.

دلوړي څخه خوراک دادی چي باران به شوی وای اوله لاندي څخه مطلب دادی چي، کښت به ښه شین شوی وای.

له دي ایت څخه په ښه ډول څرګندیږي چي، پر الٰهي حکمونو باندي، په عمل کولو سره رزق ډیریږي.

دوهم فصل

په دي بیان کي چي دطاعت څخه ډول، ډول برکتونه پیدا کیږي. قال الله تعالی:

" وَلَوْاَنَّ اَهْلَ الْقُرٰی اٰمَنُوْا وَاتَّقَوا لَفَتَحْنَا عَلَیْهِمْ بَرَکٰتٍ مِنَ السَّمَاءِ وَالْاَرْضِ وَلٰکِنْ کَذَّبُوْا فَاَخَذْنَاهُمْ بِمَا کَانُوْ یَکْسِبُوْنَ " (الاعراف - ٩٦)

یعني " که ددغو کلیو او سیدونکو ایمان راوړی وای اوتقوایي غوره کړي وای. نومونږ به پرهغوی باندي ډول، ډول برکتونه داسمان او ځمکي څخه اورولي وای. لیکن هغوي دروغ وګڼل نومونږ ونیول په سبب دهغو عملونو کوم چي دوي کول. "

پرذکرشوي دعوی باندي بالکل ښکاره دلالت کوي.

دريم فصل

په دي بيان کي چي دطاعت کولو څخه هر ډول تکليف او پريشاني ليري کيږي:

قال الله تعالى: "وَمَنْ يَّتَّقِ اللّٰهَ يَجْعَلْ لَّهٗ مَخْرَجًا وَّيَرْزُقْهُ مِنْ حَيْثُ لَا يَحْتَسِبُ وَمَنْ يَّتَوَكَّلْ عَلَى اللّٰهِ فَهُوَ حَسْبُهٗ. "
(الطلاق-٣٢)

الله تعالى فرمايي: "کوم څوک چي دالله تعالى څخه ويريږي ،الله تعالىٰ به دهغه لپاره خلاصي کړي لاري. يعني له هرډول سختي او مشکل څخه به ورته خلاصون ورکړه شي او رزق به ورکوي له داسي مقام نه چي دهغه به ګمان نه وي او کوم څوک چي اعتماد کوي پر الله تعالىٰ باندي، هغه دده لپاره کافي دی"

له دي ايت څخه ښکاره ثبوت ته ورسيد چي دتقوىٰ له برکته به له هرډول سختي څخه خلاصون وموميِ.

څلورم فصل

په دي بيان کي چي، دطاعت څخه په مطلوب کارونو کښي، اسانتيا پيدا کيږي. قال الله تعالى:
"وَمَنْ يَّتَّقِ اللّٰهَ يَجْعَلْ لَّهٗ مِنْ اَمْرِهٖ يُسْرًا" (الطلاق-٤)

"کوم څوک چي دالله تعالی څخه ویریږي. الله تعالی دهغه په کار کي سهولتونه راولي."
پر ذکر شوي مطلب دلالت کوي.

پنځم فصل

په دي بیان کي چي د طاعت څخه ژوند خوندور کیږي. قال الله تعالی:
"مَنْ عَمِلَ صَالِحاً مِنْ ذَكَرٍ أَوْ أُنْثَى وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَلَنُحْيِيَنَّهُ حَيٰوةً طَيِّبَةً" (النحل ٩٧)
"کوم څوک چي نیک عمل کوي نارینه وي که ښځه. په دي شرط چي مومن وي، نو مونږ به ورکړو هغو ته ښه (خوندور) ژوند."
په حقیقت کي په سترګولیدل کیږي چي د صالحو خلګو غوندي خوند او راحت پاچاهانو ته هم نه وي په برخه شوی.

شپږم فصل

په دي بیان کي چي له طاعت څخه باران کیږي. مال ډیریږي. اولاد یي کیږي، باغ یي میوه کوي او په ویالو کي اوبه زیاتیږي.
کما قال الله تعالی:

"اِسْتَغْفِرُوْا رَبَّكُمْ اِنَّهٗ كَانَ غَفَّارًا يُّرْسِلِ السَّمَاءَ عَلَيْكُمْ مِّدْرَارًا وَّيُمْدِدْكُمْ بِاَمْوَالٍ وَّبَنِيْنَ وَيَجْعَلْ لَّكُمْ جَنّٰتٍ وَّيَجْعَلْ لَّكُمْ اَنْهٰرًا." (نوح-۱۰، ۱۱، ۱۲)

نوح (علیه السلام) خپل امت ته وویل:

"دخپل رب څخه دګناهونوبخښنه وغواړي، په تحقیق سره چې هغه ډیر بخښونکي دی. وبه اوروي پرتاسي باران بهیدونکي او ډیر به کړي ستاسي مالونه اوبچیان او اوبه به کړي ستاسي لپاره باغونه او له اوبو به ډکي کړي ستاسي لپاره ویالي."

اووم فصل

په دي بیان کي چې په ایمان راوړلو سره خیر او برکتونه ورپه برخه کیږي او هر ډول آفت ختمیږي.

قال الله تعالی:

"اِنَّ اللّٰهَ يُدٰفِعُ عَنِ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا" (الحج-۳۸)

"یعني الله تعالی یي دفع کوي (تول افتونه او غمونه) د هغه خلکو څخه چې ایمان یي راوړی دی."

الله سبحانه وتعالی به دهغوی لپاره ساتونکی او مدد ګاره وي.

قال الله تعالی: "اَللّٰهُ وَلِيُّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا."

"الله تعالی کومک کوونکی دی دمومنانو لپاره."

او ملائکو ته حکم کیږي چي دهغوي زړونه کلک وساتي.

قال الله تعالی: " اِذْ یُوْحِیْ رَبُّکَ اِلَی الْمَلٰئِکَةِ اَنِّیْ مَعَکُمْ فَثَبِّتُوا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا. " (الانفال-۱۲)

"هغه وخت په یادولري کله چي حکم کوي ستاسي رب، ملائکو ته چي بیشکه، زه ستاسي سره یم، تاسي ثابت قدم واړي، هغه کسان چي ایمان یي راوړی."

ربنتین عزت به ورکول کیږي.

قال الله تعالی:

"وَلِلّٰهِ الْعِزَّةُ وَلِرَسُوْلِهٖ وَلِلْمُؤْمِنِیْنَ."

"دالله تعالی لپاره دی عزت اودهغه درسول لپاره دی او دمومنانو لپاره."

درجي به لوړیږي:

قال الله تعالی:

"یَرْفَعِ اللّٰهُ الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا مِنْکُمْ."

"الله تعالی به دهغو کسانو مرتبي لوړي کړي کوم چي ایمان یي راوړی دی."

په زړونو کي یي محبت پیدا کیدل:

قال الله تعالی:

"انَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ سَيَجْعَلُ لَهُمُ الرَّحْمٰنُ وُدًّا." (مریم-۲۹)

"بیشکه کوموکسانوچي ایمان راوړي دی اوښه عمل یې کړی ژر به پیدا کړي الله تعالی دهغوی محبت دخلکو (په زړونو کي)"

اوپه یوه حدیث کښې هم دغه مضمون راغلی دی چي الله تعالی، کله دیوه بنده سره محبت کوي لومړي ملائکوته حکم کیږي چي، له فلاني سره محبت وکړی. بیا په دنیا کي اعلان کیږي:

"فَيُوْضَعُ لَهُ الْقَبُوْلُ فِي الْاَرْضِ." یعني دهغه لپاره قبولیت په ځمکه مقرر کیږي. دهغه دقبولیت کله تر دي حده اثر وي چي، حیوانات اوجمادات دهغه سړي اطاعت کوي.

تو هم گردن از حکم داور مپیچ
که گردن نه پیچد زحکم تو هیچ

ژباړه: "ته دالله عزوجل دحکم څخه سرغړونه مه کوه. ستا دحکم اوامر نه به هیڅوک هم سرغړونه ونه کړي."

قرآن مجید به دهغه لپاره شفا وي.

قال الله تعالی:

"قُلْ هُوَ لِلَّذِيْنَ آمَنُوْا هُدًى وَشِفَاءٌ"

"ورته ووايه چي هغه قرآن د مومنانو لپاره هدايت او شفا دی"

همدا دول په ايمان سره تولي ښيګڼي اونعمتونه ورکول کيږي.

دايمان د فضائلو په مطالعه سره د دي دعوي تصديق کيږي.

اتم فصل

په دي بيان کي چي په طاعت کولو سره د مال ډير ښت کيږي او نعم البدل ورکول کيږي.

قال الله تعالى: "يَاأَيُّهَا النَّبِيُّ قُلْ لِمَنْ فِيْ أَيْدِيْكُمْ مِنَ الْأَسْرٰى إِنْ يَعْلَمِ اللّٰهُ فِيْ قُلُوْبِكُمْ خَيْرًا يُؤْتِكُمْ خَيْرًا مِمَّا أُخِذَ مِنْكُمْ وَيَغْفِرْ لَكُمْ وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ رَحِيْمٌ" (الانفال-۷)

فايده: دا آيت د بدر د بنديانو په باب نازل شوی دی چي ورڅخه د فدیي په دول څه مال اخيستل شوي وو.

د دوی څخه وعده واخيستله شوه، که په ربنتيني دول سره ايمان راوړي نو به تر پخواني اندازي ډير مال ورکړه شي او د غسي وشول.

نهم فصل

په دي بيان کي چي په طاعت کولو سره ورځ په ورځ په نعمتونو کي زياتوب راځي.

قال الله تعالى: "لَئِنْ شَكَرْتُمْ لَأَزِيدَنَّكُمْ"

"که تاسي شکر اداکړی نو به زياتوب پکښي وکړم."

لسم فصل

په دي بيان کي چي په طاعت کي، دمال په خرڅولو سره مال ډيريږي.

قال الله تعالى: "وَمَا آتَيْتُمْ مِنْ زَكٰوةٍ تُرِيدُونَ وَجْهَ اللهِ فَأُولٰئِكَ هُمُ الْمُضْعِفُونَ" (الروم-٣٩)

"او هرهغه څه چي ورکوی تاسي هغه له زکات څخه چي اراده لري تاسي په هغه سره دثواب او رضا دالله پس دغه محضاً لله ورکوونکي، هم دوی دي زياتوونکي هم. (دحسناتو خپلو)"

****

يوولسم فصل

پدي بيان کي چي په طاعت کولوسره په زړه کښې يوډول راحت اواطمنان پيداکيږي چي، ددي خوندپه مقابل کي داووا قليمونو سلطنت هيڅ هم ندي.

قال الله تعالى: " أَلَا بِذِكْرِ اللهِ تَطْمَئِنُّ الْقُلُوبُ. "

قال العارف الشيرازي (رحمه الله عليه)

بفراغ دل زماني نظري بماهروي
به ازانکه چتر شاهي همه روز هاي هوي

ژباړه: "يوه ګړۍ زړه فارغه، دمعشوق ومخ ته کتل، دپاچاهي ترسايوان لاندي دهري ورځي د خادمانو او نوکرانو ترغږونو ډير ښه دی."

يوبل بزرګ، سنجر، دنيمروزد پاچادمکتوب په ځواب کي ليکلي و:

چون شتر سنجري رُخ بختم سياه باد
دردل گربود هوس ملک سنجرم
زانګه که يافتم خبر از ملک نيم شب
من ملک نيمروز بيک جونمي خرم

يعني: "دسنجرپاچادسايوان په شان دي زما د بخت مخ تورسي، که زماپه زړه کي دسنجر دپاچاهي غوښتنه وي. دکومه وخته چي دنيمي شپي

دپاچاهي خبرراکړ شوي دی، نواراده مي کړي ده چي ديوي اوربشي په بدله کي هم دنيمروز پاچاهي نه رانيسم."

يوبزرګ وايي: "که جنتيان په داسي حال کي وي څرنګه چي مونږ يو، نوبيا په ډيرخوندورژوندکي دي."

يوبل بزرګ وايي: "افسوس داغريب دنيادار له دنيا څخه رخصت شول، نه يي ژوند وکتلی نه يي خوندوڅکی."

اودريم وايي: "که پاچازمونږله خوندڅخه خبر شي، نودغبطي له کبله به زمونږ سره جنګ وکړي. کله تردي پوري دخوندغلبه وي چي پرجنت هم ترجيح ورکوي، بلکه د قرب دلذت له کبله دوزخ تللوته راضي کيږي اوکه دهغه خوند نه وي نوجنت هم څه نه ګڼي."

قال العارف الرومي

هر کجا دلبر بود خرم نشين
فوق گردون است نې قعر زمين
هرکجا يوسف رخي باشد چوماه
جنت است ان گرچه باشد قعرچاه
باتو دوزخ جنت است ای جانفزا
بي تو جنت، دوزخ است ای دلربا

(هر چيري چي جانان وي خوشحاله کښينه. هغه ځای تر آسمان لوړ دی نه دځمکي تل. هر چيري چي دسپوږمی په څير يوسف مخی وي، هغه جنت دی که څه هم دځاه تل وي. جانانه له تا سره دوزخ، جنت دی. خو له تا پرته جنت دوزخ دی.)

دوولسم فصل

قال الله تعالى في قصة الخضر (عليه السلام):

"وَأَمَّا الْجِدَارُ فَكَانَ لِغُلَامَيْنِ يَتِيمَيْنِ فِي الْمَدِينَةِ وَكَانَ تَحْتَهُ كَنزٌ لَّهُمَا وَكَانَ أَبُوهُمَا صَالِحًا فَأَرَادَ رَبُّكَ أَن يَبْلُغَا أَشُدَّهُمَا وَيَسْتَخْرِجَا كَنزَهُمَا رَحْمَةً مِّن رَّبِّكَ"

(الكهف-۸۲)

يعني: "حضرت خضر عليه السلام وموسی عليه السلام ته وفرمايل: ماکوم ديوال چي پرته له اجرته جوړ کړ هغه د يتيمانو وو. کوم چي په ښار کي اوسيږي او تر ديوال لاندي دهغوی يوه خزانه پټه ده او پلار يي ښه سړی وو نو الله تعالى ته دا منظوره وه چي دا دواړه ځوانان شي او خپله خزانه راوباسي دا ستاد پروردګار له طرفه يوه مهرباني ده."

له دي څخه څرګنده شوه چي د يتيمانو د مال ژغورني حکم، خضر عليه السلام ته له دي سببه شوی وو چي پلار يي

صالح سړی و.

سبحان الله دښه عمل اثرات د انسان په نسل کي هم وي. نن سبا خلک داولاد لپاره دډول ډول سامانونو، جايداداو پيسود ډيرولو فکر کوي، تر ټولو ډير دکار جايداد، دادی چي په خپله نيک عمل وکړي چي دهغه له برکته اولاد دټولو آفتونو څخه ساتل کيږي.

دياړلسم فصل

په دي بيان کښي چي په طاعت کولوسره په ژوند کي غيبي بشارتونه ورکول کيږي:

قال الله تعالی: " أَلَا إِنَّ أَوْلِيَاءَ اللهِ لَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ، اَلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَكَانُوْا يَتَّقُوْنَ، لَهُمُ الْبُشْرٰى فِيْ الْحَيٰاةِ الدُّنْيَا وَفِيْ الْاٰخِرَةِ. " (يونس-۶۴)

په حديث شريف کي يي تفسير راغلي دی چي د بُشْرٰی څخه مطلب ښه خوب دی چي زړه ورڅخه خوشحاله شي. مثلا، په خوب کي يي وليدل چي جنت ته ولاړم.

ياد الله په زيارت مشرف شوم. دغه ډول يي بل خوب وليد چي ورڅخه اميد ته قوت او زړه ته خوشحالي ورکړه شوه.

خوارلسم فصل

پدي بيان کي چي په طاعت سره ملائيکي د مرګ په وخت، زيری ورکوي.

قال الله تعالى : " اِنَّ الَّذِيْنَ قَالُوْا رَبُّنَا اللّٰهُ ثُمَّ اسْتَقَامُوْا تَتَنَزَّلُ عَلَيْهِمُ الْمَلٰئِكَةُ اَلَّا تَخَافُوْا وَلَا تَحْزَنُوْا وَاَبْشِرُوْا بِالْجَنَّةِ الَّتِيْ كُنْتُمْ تُوْعَدُوْنَ ط نَحْنُ اَوْلِيَاءُ كُمْ فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا وَفِي الْاٰخِرَةِ وَلَكُمْ فِيْهَا مَا تَشْتَهِيْ اَنْفُسُكُمْ وَلَكُمْ فِيْهَا مَا تَدَّعُوْنَ ط نُزُلًا مِّنْ غَفُوْرٍ رَّحِيْمٍ ط "

(حم السجدة- ۳۰، ۳۲، ۳۲)

ژباړه: "بيشکه هغه کسان چي ويلي يي دي صدقا (له زړه) چي، رب زمونږ الله دی، بيا ټينګ ولاړ دي(په دغه توحيد او نورو اعمالو ددين)رانازليږي به پر دوی پرښتي(عند النزع والبعث يافي القبر، داسي به وايي:)مه ويريږي او مه خپه کيږي او خوشحاله اوسي تاسي په جنت، هغه چي له تاسو سره وعده شوي ده (په ژبه دانبياؤ الله سره)بل داسي ورته وايي ملائکي، مونږيودوستان ستاسي په دغه ژوندون لږخسيس کښي(په حفاظت نصرت) او په اخرت کښي (چي درځخه لري به کړو وحشت دقبر او وبه رسوو تاسي

جنت ته)او شته تاسي ته په دغه جنت کښي هغه نعمتونه چي مينه ورته کوي نفسونه ستاسي او شته تاسي ته په دغه(جنت) کښي(لذات کرامات)چي غواړی يي تاسي، ميلمستيا ده له(جانبه دالله)نبه ښښوونکی دخطياتو ډير رحم والا(په انعام داجر او ثواب سره)"

پنځلسم فصل

په دي بيان کي چي دځينو طاعاتو څخه په حاجت پوره کولو کي کومک کيږي.

قال الله تعالى: "وَاسْتَعِيْنُوْا بِالصَّبْرِ وَالصَّلٰوةِ"

يعني: " کومک وغواړی په خپلو حاجاتوکي (کماقال المفسرون)په صبر او لمانځه سره."

په حديث کي داستعانت (کومک غوښتل)يوه خاصه طريقه راغلي ده.

امام ترمذي د عبدالله بن اوفی(رضی الله عنه) څخه روايت کړی چي. رسول الله(صلی الله عليه وسلم) فرمايي:

"ديوچاچي يودول ضرورت وي دالله تعالى يا ديو انسان څخه، هغه ته په کار ده چي په ښه ډول اودس وکړي. دوه رکعته لمونځ وکړي.

بيا دالله تعالى حمد ووايي.

مثلاً سورة فاتحه ولولي اوپه رسول الله(صلى الله عليه وسلم) درود شريف ولولي. بيا دا دعا وكړي:

{لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ سُبْحَانَ اللّٰهِ رَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْمِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ اَسْئَلُكَ مُوْجِبَاتِ رَحْمَتِكَ وَعَزَائِمَ مَغْفِرَتِكَ وَالْغَنِيْمَةَ مِنْ كُلِّ بِرٍّ وَالسَّلَامَةَ مِنْ كُلِّ اِثْمٍ، لَا تَدَعْ لِيْ ذَنْبًا اِلَّا غَفَرْتَهُ وَلَا هَمًّا اِلَّا فَرَّجْتَهُ وَلَا حَاجَةً هِيَ لَكَ رِضًى اِلَّا قَضَيْتَهَا يَا اَرْحَمَ الرَّاحِمِيْنَ.}

شپاړسم فصل

پدي بيان كي چي په ځينو طاعاتوكي دا اثروي چي، كه په كومه معامله كتبي تردد وي چي څرنګه به ښه وي، ختميږي وهغه لوري ته رايه وي چي ټوله سره ګټه او خير وي، دتاوان احتمال هيڅكله نه وي ګواكي، دالله تعالى له لوري مشوره ورکول كيږي.

امام بخاري(رحمه الله تعالى)[1] دجابر(رضى الله عنه) څخه روايت كړى دى چي، رسول الله (صلى الله عليه وسلم) فرمايي: "چي كله تاسوته په يوكاركي تردد وي يعني نه پوهيږى چي څه ډول به ښه وي. مثلاً، ديوسفر په باب تردد وي چي پكښي ګټه به وي كه تاوان، دغه رنګه په

---

[1] دغه حديث له مشكوة شريف څخه نقل كړي سوي دي ١٢منه

بل کوم کار کي شک وي، نو دوه رکعته نفل وکړی او دغه دعا ولولی:

"اَللّٰهُمَّ اِنِّيْ اَسْتَخِيْرُکَ بِعِلْمِکَ وَاَسْتَقْدِرُ بِقُدْرَتِکَ وَاَسْئَلُکَ مِنْ فَضْلِکَ الْعَظِيْمِ فَاِنَّکَ تَقْدِرُ وَلَا اَقْدِرُ وَتَعْلَمُ وَلَا اَعْلَمُ وَاَنْتَ عَلَّامُ الْغُيُوْبِ، اَللّٰهُمَّ اِنْ کُنْتَ تَعْلَمُ اَنَّ هٰذَا الْاَمْرَ خَيْرٌ لِّيْ فِيْ دِيْنِ وَمَعَاشِيْ وَعَاقِبَةِ اَمْرِيْ."

په بل روایت کي[1] د "فِيْ دِيْنِ وَمَعَاشِيْ وَعَاقِبَةِ اَمْرِيْ" پر ځای دغه الفاظ دي:

"عَاجِلُ اَمْرِيْ وَاٰجِلِهٖ فَاقْدُرْهُ لِيْ وَيَسِّرْلِيْ ثُمَّ بَارِکْ لِيْ فِيْهِ وَاِنْ کُنْتَ تَعْلَمُ اَنَّ هٰذَا الْاَمْرَ شَرٌّ لِّيْ فِيْ دِيْنِيْ وَمَعَاشِيْ وَعَاقِبَةِ اَمْرِيْ."

دلته هم هغه دوهم روایت دي کوم چي وړاندي ذکر شو. "فَاصْرِفْهُ عَنِّيْ وَاصْرِفْنِيْ عَنْهُ وَاقْدُرْ لِيَ الْخَيْرَ حَيْثُ کَانَ ثُمَّ اَرْضِنِيْ بِهٖ."

دخپل[2] کارنوم دي واخلي يعني د "هٰذَا الْاَمْرُ" پر ځای دي مثلا، "هٰذَا السَّفَرُ" يا "هٰذَا النِّکَاحُ" يا چي کوم کار يي دی هغه دي ولولي.

١- لوستونکي ته اختيار وي چي کوم لفظ ولولي. ١٢منه

٢- يادي يوازي په زړه کي سوچ وکړي

اوولسم فصل

دبعضي طاعاتو دا اثر دی چي ورځخه دټولو مهمو کارونو ذمه واري الله تعالی په خپله اخلي. امام ترمذي(رحمه الله تعالی) دابودرداء اوابوذر(رضی الله تعالی عنهما)څخه روایت کړی چي الله تعالی فرمايي: "(اي بني آدمه!)زما لپاره د ورځي په پيل کي، څلور رکعته لمونځ وکړه. زه د ورځي تراخره پوري ستا ټول کارونه او ستونزي در پوره کوم."

اتلسم فصل

په بعضي طاعاتو کي داثر وي چي په مال کي برکت پيدا کيږي. دحکيم بن حزام (رضی الله عنه) څخه روایت دی چي، رسول الله(صلی الله علیه وسلم) فرمايي:

که ربښتيا ووايي: بايع(خرڅوونکي)اومشتري (اخستونکي)او دخپل مال حال څرګند کړي نود دواړو لپاره به په معامله کي برکت وي او که يي پټ کړي او دروغ ووايي نو ددواړو دکاروبار څخه برکت ختميږي.

(بخاري،مسلم)

نولسم فصل

په دينداري سره سلطنت دوام مومي. امام بخاري (رحمه الله تعالى) دحضرت معاويه (رضى الله عنه) څخه روايت کړي دى، ما له رسول الله (صلى الله عليه وسلم) څخه اوريدلي چي: " خلافت او سلطنت به هميشه په قريشو کي وي. کوم څوک چي يي مخالفت کوي، الله تعالى به يي پر مخ وغورځوي. ترڅوچي هغوى په دين قايم وي. "

شلم فصل

دبعضي مالي طاعاتو په سبب، دالله تعالى غصه او قهرختميږي او انسان په بدحالت نه مړ کيږي. ترمذي (رحمه الله تعالى) دحضرت انس (رضى الله عنه) څخه روايت کړي چي رسول الله (صلى عليه وسلم) فرمايي:

(صدقه دالله تعالى غصه اوقهرختموي اولري کوي. بد او ناوړه مرګ يعني چي په هغه کي خواري او شرمندګي وي يا خاتمه په بدحالت کښي وي. "

(نعوذ بالله)

يوويشتم فصل

په دعا سره بلا او آفت لري کيږي او په نيکي کولو سره عمر ډيريږي. د سلمان فارسي(رضی الله تعالی عنه) څخه روايت دی چې رسول الله(صلی الله عليه وسلم) فرمايي:

"نه لري کوي قضاء[1] مګر دعا او نه زياتيږي عمر مګر په نيکي سره." (ترمذي)

دوه ويشتم فصل

په سورة يس لوستلو سره، ټول کارونه جوړيږي. دعطا بن ابي رباح(رضی الله عنه) څخه روايت دی: ماته داخبرارسيدلی چې، رسول الله(صلی الله عليه وسلم) فرمايي: "کوم څوک چې دورځي په پيل کي، سورة يس تلاوت کړي، دټولي ورځي کارونه به يي وشي."

(دا روايت دارمي راوړی دی.)

---

١ له دي حديث نه د تقدير انکار نه لازميږي ولي چې دغه اثر هم له تقدير څخه دی.

درويشتم فصل

دسورة واقعه په تلاوت کولو سره به هيڅکله وربانديي تنګسه اولوړه رانشي.

له حضرت ابن مسعود(رضی الله تعالی عنه) څخه روايت دی چي، رسول الله(صلی الله علیه وسلم) فرمايي:

"کوم څوک چي هره شپه سورة واقعة تلاوت کوي، هغه به هيڅکله لوړه ونه مومي." (بيهقي)

څلوروشيتم فصل

دايمان له برکته په لږ خوراک سره په راحت کي کيږي. دابو هريره(رضی الله تعالی عنه) څخه روايت دی:

" يوه سړي دوه ديره خوړله، بيامسلمان شو نو يي لږ خوراک پيل کړ. درسول الله (صلی الله علیه وسلم) په حضورکي دهغه يادونه وشوه. ده مبارک وفرمايل:

"مسلمان په يوه کولمه سره خوراک کوي

او کافرپه اوو کولمو سره."

(بخاری)

پنځه ويشتم فصل

دځينو دعاګانو دا برکت وي چې، دناروغيو يا يو آفت رسيدلو ويره نه وي.

دحضرت عمر اوابوهريره(رضی الله عنهما)نه روايت دی چې، حضرت رسول الله(صلی الله عليه وسلم) ارشاد کوي: " کوم څوک په غم اخته يا يوه ناروغي ووينې نو دادعا دي ولولي: "اَلْحَمْدُ للهِ الَّذِيْ عَافَانِيْ مِمَّا ابْتَلَاکَ بِهٖ وَفَضَّلَنِيْ عَلٰي کَثِيْرٍ مِمَّنْ خَلَقَ تَفْضِيْلاً." هيڅکله به هغه ناروغي ورته ونه رسيږي چې هر څه وشي." (ترمذی)

شپږويشتم فصل

په بعضي دعاګانو کي دابرکت وي چې دغم فکرونه ختميږي اوقرض اداکيږي.

دحضرت ابوسعيد خدري(رضی الله تعالی عنه) څخه روايت دی چې يوه سړي وويل:

"يارسول الله!: ډيرو فکرونو اوپورونو نيولی يم."

ده مبارک وفرمايل:

" تاته به ددا سي کلام نبنودنه وکړم چي په لوستلو سره يي ټول فکرونه ليري کړي او ستا پور به هم ادا کړي. "

هغه سړي وويل: " ډيره ښه. "

ده (صلى عليه وسلم) وفرمايل: سهار اوبيګا دا دعا لوله: "اَللّٰهُمَّ اِنِّيْ اَعُوْذُبِکَ مِنَ الْهَمِّ وَالْحُزْنِ وَاَعُوْذُبِکَ مِنَ الْعَجْزِ وَالْکَسَلِ وَاَعُوْذُبِکَ مِنَ الْجُبْنِ وَالْبُخْلِ وَاَعُوْذُبِکَ مِنْ غَلَبَةِ الدَّيْنِ وَقَهْرِ الرِّجَالِ. "

دهغه سړي بيان دي چي داد عامي وکړه، واړه غمونه، فکرونه ختم شول او قرض هم ادا شو. (ابوداود)

اوه ويشتم فصل

ځيني دعاګاني داسي دي چي، دجادو اونورو... داثر څخه انسان ژغورل کيږي.

حضرت کعب احبار (رضى الله تعالى عنه) فرمايلي دي:

"که ما څو کلمي نه لوستلای نو يهودانو به زما څخه خرجوړ کړی وای. " يو چا ورڅخه وپوښتل:

هغه کلمي څه دي؟ نويي وويل:

"اَعُوْذُ بِوَجْهِ اللهِ الْعَظِيْمِ الَّذِيْ لَيْسَ شَئٌ اَعْظَمَ مِنْهُ وَبِكَلِمَاتِ اللهِ التَّامَاتِ الَّتِيْ لَايُجَاوِزُ هُنَّ بَرٌّوَلَا فَاجِرٌ وَبِأَسْمَاءِ اللهِ الْحُسْنٰى مَا عَلِمْتُ مِنْهَا وَمَالَمْ اَعْلَمْ. مِنْ شَرِّ مَا خَلَقَ وَذَرَاَ وَبَرَاَ" (مالک)

هدارنګه په طاعتونوکښې نورهم بې شمیره ښیګڼې او ګټې شته دي چې، په قرآن شریف، حدیث شریف اوپه ورځنیومعاملاتوکې دغور اوفکر کولو څخه پوهیدلې شو.

مونږ خوبې په سترګو هم وینو چې کوم کسان دالله تعالی اودرسول الله (صلی الله علیه وسلم) فرمانبرداره دي، دهغوی ژوند ډیر ښه اوهوسا تیریږي چې، په امیرانو کې بې مثال نشته.

په هرڅه کې بې برکت وي. زړونه بې روښانه وي کوم چې د خوشحالي اصلي پانګه ده.

یا الله: مونږ تولو ته دخپل طاعت توفیق راکړي او خپله رضا او قرب رانصیب کړي.

(آمین یاربّ العالمین)

****

دريم باب

په دي وينا کي چي دګناه اوداخرت په سزا کي خومره تينګه علاقه ده. بايد پوه شي چي د کتاب، سنت او کشف څخه بريښي چي ددنيوي عالم څخه پرته، دوه نور عالَمونه دي:

يو ته برزخ او دوهم ته عالَم الغيب وايي.

زمونږ مطلب داخرت څخه يو عام مفهوم دی چي دواړو ته شامل دی. نو کوم وخت چي انسان يو عمل کوي هغه ژر په برزخ کښې مخکښې کيږي او پر وجود باندي يي يو څه اثرات هم پريوځي.

ددي عالَم نوم قبر هم دی.

بيا ددي اعمالو په يو وخت کي بشپړ ظهور چي ورته د حشر او نشر ورځ وايي. نو دهر عمل وجودي مراتب دري شول:

صدور ،مثالي ظهوراو حقيقي ظهور.

دا مضمون په تلفون سره فهمولاي شئ.

کله چي يو سړي خبره کوي هغه په دري برخو ويشله شوي:

یوه مرحله هغه دې چي هغه خبره دخولي نه ووزي. دوهمه داچي ژر په تېپ کي هغه خبري ثبت شي. دریمه مرحله راځي چي کله ورځخه د اواز ایستل وغواړي. هغه اواز په خپله بیرته اوریدل کیږي. نو دخولي څخه اواز ایستل، د دنیا دعالَم مثال دی. په دي کي ثبت کیدل، دبرزخ دعالَم ،بیا ورځخه د اواز ایستل، دغیب دعالَم مثال دی.

څرنګه چي یو عاقل په دي کي شک نه کوي چي الفاظ دخولي نه دوتلو سره سم په تېپ کي ثبتیږي او په دي کي هم شک نه کوي چي دایستلو په وخت هغه غږ اوري کوم چي یې ړومبي دخولي څخه ایستلي وو ،د هغه خلاف نه وزي.

همدا ډول مومن ته په دي کي شک نه دی په کار چي کوم وخت کوم عمل ورځخه صادریږي، ژر هغه په مثالي عالَم کي منقّش کیږي او په اخرت کي به ښکاره کیږي.په دي اساس به یقین شوی وي چي داخرت[1]

۱- او داشک دي نه وي چي له حدیث نه بریښي چي کله جنت یوه لویشت پاته وي بیا تقدیر غالب شي او مړي دوزخي شي. دغه رنګ له دوزخي څخه جنتي شي. له دي څخه څرګنده مجبوري معلومیږي.

ځواب یې دادي چي دتقدیر دغه غلبه په واړو اختیاري کارونو کي پیښیږي ځینې وختونه طبیب ډیر ښه علاج کوي خو دتقدیر دغلبې نه ناورغ مړشي. لیکن

سلسه بالکل زمونږ په اختياري حالت بناء ده، هيڅ دمجبوري وجه نه ده. نوځرنګه چې دتهيپ کيدلو پر وخت ديوي يوي خبري فکر وي چې زما دخولي نه څه وزي. کومه داسي خبره ونشي چې کول يې دهغه په وړاندي نشم کولاي، دچا په مخ کي چې د دي دتهيپ نه ايستل کيږي او په دي هم پوهيږي چې هغه وخت به دانکار ګنجايش نه وي. ولي چې ددغي الي (تهيپ) يقيني حاصل ده چې کله هم داسي نه وي چې وايي يو څه او چې اوري بيا بل څه شی وي.

دغه ډول داعمالو دکولو په وخت، ددي خبري فکر په کار دی چې زه څه کوم دا چيري يوځای کيږي او پرته له کومي زياتي اوکمي، يوه ورځ ښکاريږي او هغه وخت کوم عذر او حيله دزياتوب او لږوالي نه منل کيږي. که دغه فکر غالب شي او د ګناه کولو په وخت دغسي اند يښنه وي لکه دټليفون کولو په وخت مخامخ ښکنځل کولو څخه. کله چې يقين وي چې دپاچا په حضور کي څرګند يږي او هغه وخت به زه حاضر يم.

بيا هم روغتيا دعلاج نتيجه ګڼي او پريږدي يې نه قانون دادي چې اعتبار داکثر معاملاتو وي په شاذ او نادر حکم نه لګيږي. نو دغه صورت هم اتفاقي دی ولي چې زياتره دجنتي څخه دجنت او دوزخي څخه ددوزخ اعمال صادريږي.

قال الله تعالى: فاما من اعطى واتقى. الخ۱۲

یا په یو بل اسانه مثال ځان پوه کړئ. دوني په شنه کیدو کي دري مرحلي دي:

لومړي تخم اچول. دویم دځمکي څخه دهغه راوتل. دریم دغټیدلو سره میوه کول.

عاقل په دي ښه پوهیږي چي دوني ښکاریدل او میوه کول. لومړي مرحله نه ده بلکه پر تخم باندي ولاړه ده. دغه ډول په دنیاکي عمل کول دتخم اچولو په شان دی. دبرزخي اثراتو څرګندیدل دونودایستلو مثال دی. داخرت په اثارو ښکاره کیدل په دي کي دګل اومیوي لګیدل دي. نودبرزخ اودخرت دثمراتو بالکل په دغو اختیاري اعمالو باندي بنا شوي ده. لکه څرنګه چي داوربشوپه کرلوسره، کله هم دغنمو دشنه کیدو امید نه کیږي. دغه ډول دبدوعملونو په کولوسره ولي توقع کیږي چي مونږ ته به ښایي دنیکي ثمراتي راکړلي شي.

اودپورته مثال نه په دغه مضمون ځان پوه کړئ چي: "أَلدُّنْيَا مَزْرَعَةُ الْآخِرَةِ."

(یعني دنیا داخرت لپاره کښت ده.)

دیوه بزرګ خبره ده:

ازمکافات عمل غافل مشو

گندم زگندم بروید جوز جو

دعمل د جزاء څخه مه غافله کيږه. غنم له غنمو او اوربشي له اوربشو نه پيدا کيږي. نو خبر اوسی چي دعمل له جزاء به غفلت نه کوي او څرنګه چي داوربشو په تخم او وړي کي مماثلت نه دی خو معنوي مناسبت يقيني دی، کوم چي دنظر څښتنانو ته بريښي. دغه ډول په اعمالو او جزا کي پټ مناسبت دی چي د پوهيدلو لپاره يي دبصيرت اړتيا ده. نو څرنګه چي داوربشي د وړي د پيژندونکي خبرد اعتبار وړ ده او ورسره په دي حکم کي اختلاف نه کيږي. په مناسبت باندي پوه شي او که نشي. دغه ډول داعمالو دثمراتو دنبوونکو (انبياءاواولياء) ارشاد او خبري منل واجب دي، په مناسبت که پوه شی او که نشی.

اوس مونږ دځينو اعمالو دثمراتو بيان کوو، کوم چي دمرګ نه وروسته پيښيږي. په برزخ کي وي او که په اخرت کي وي. ددي لپاره چي پوه شی د مرګ څخه وروسته کارخانه لومړنی نه ده. بلکه ددنيا پرکارخاني بنا ده او وروسته دځينواعمالو او ثمراتومناسبت تمثيلاليکو. ددي لپاره چي معلومه شي چي هلته څه دي هغه ددي مقام بنکارندويه او تمثيل دی او په دغو ارشاداتو باندي به پوه شي:

"مَا يَلْفِظُ مِنْ قَوْلٍ اِلاَّ لَدَيْهِ رَقِيبٌ عَتِيدٌ" فَمَنْ يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَيْراً يَرَهُ وَمَنْ يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ شَرّاً يَرَهُ."

وقوله تعالى: "وَاِنْ كَانَ مِثْقَالَ حَبَّةٍ مِنْ خَرْدَلٍ اَتَيْنَا بِهَا وَكَفٰى بِنَا حَاسِبِيْنَ."

وقوله تعالى: "يَقُوْلُوْنَ يٰوَيْلَتَنَا مَالِهٰذَا الْكِتَابِ لَا يُغَادِرُ صَغِيْرَةً وَلَاكَبِيْرَةً اِلا اَحْصَاهَا وَوَجَدُوْا مَا عَمِلُوْا حَاضِراً وَلَا يَظْلِمُ رَبُّكَ اَحَدا."

وقوله تعالى: "يَوْمَ تَجِدُ كُلُّ نَفْسٍ مَاعَمِلَتْ مِنْ خَيْرٍ مُحْضَراً وَمَاعَمِلَتْ مِنْ سُوْءٍ تَوَدُّ لَوْاَنَّ بَيْنَهَا وَبَيْنَهُ اَمَداً بَعِيْداً."

وقوله تعالى: "يُثَبِّتُ اللهُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا بِالْقَوْلِ الثَّابِتِ فِيَ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا وَفِيْ الْاٰخِرَةِ."

(ابراهيم -۲۷ وغيرها من الايات.)

لومړی فصل

ځيني برزخي اعمال دي چې ورځخه ددغو اعمالو مثالي صورت ښکاره کيږي.

امام بخاريؒ (رحمه الله تعالى) په روايت دصحابي سمرة بن جندب (رضى الله عنه) څخه نقل کړی دی چې:

۱- داحديث دالجواب الكافي نه راوړل شوی دی.

" حضرت رسول الله(صلى الله عليه وسلم) به ډير وخت د اصحابو(رضى الله عنهم)څخه داپوښتنيکولي چي تاسي تيره شپه کوم خوب ندی ليدلی؟

چاچي به خوب ليدلی و ،هغـــه به يي بيان کړ.

رسول الله (صلى الله عليه وسلم) به يي تعبير بيان کړ. يوه ورځ يي دتيرعادت په شان، دسهارپه وخت ارشاد وکړ: " نن شپه مي خوب ليدلی چي دوه کسان ماته راغلل او ويي ويل: راځه زه ورسره ولاړم. روان وو، يوسړي پروت و او بل سړی يي سرته ولاړ ؤ، په ډبره يي په زوره پرسر وهي چي سريي ورڅخه وکوټل شي اوډبره ورغړيږي. هغه بياډبره راواخلي او دی راګرځيدلي نه وي چي دهغه سرد پخواپه شان جوړ شي. بياهغه،دا عمل وکړي. مادهغودوو کسانو نه تعجباً وپوښتل:سبحان الله دا دواړه څوک دي؟ هغه وويل: راځي،راځي. مونږ وړاندي ولاړو پر يوه سړي تيريدلو چي ستوني ستغ پروت دی او بل سړی ورسره د اوسپني چاړه ئي نيولي اودهغه پروت سړي دخولي دوه طرفه او پوزي دسوري څخه دسرترکوپړی پوري اودسترګوڅخه ترڅټه پوري يي څيري. بيادا بل لوري ته هم دا شان عمل کوي او له دي طرف څخه فارغ شوي

نه وي چي، بيا روغ شي. بيادغه بل لوري ته دا شان عمل کوي. ماورته وويل: سبحان الله. دا دواړه څوک دي؟. ويي ويل: راځي، راځي. مونږ مخ ته ولاړو. يو تنورته ورسيدلو چي ډير شور او غوغا پکښې وه. مونږ کښته ورته وکتل چي پکښې ډيري ښځي اونارينه لوخ دي اوله لاندي څخه يوه شعله راځي. کله چي ور ورسيږي ددي له تودوخي څخه شور او فرياد کوي. ماورته وويل: داڅوک دي؟ هغوی وويل: راځي، راځي. مـــــونږ وړاندي ولاړو. يوي ويالي ته ورسيدلو چي اوبه يې دوينو په شان سري وي او پکښې يو سړی لمبيدی. دويالي په څنډه يو بل سړی دی، هغه ډيري ډبري ټولي کړي دي، هغه لمبيدونکي سړي په لامبو وهلو ځان ورته رارسوي. دا ناست سړی دهغه پرمخ باندي يوه ډبره ولي چي له تکليف نه يې هغه بيرته خپل دشاځاي ته رسوي. بياهغه ځان رارسول غواړي. دغه سړي يې بيا ليري کړي. ماو، ته وويل: دغه دواړه څوک دي؟ ويي ويل: راځي، راځي. مونږ وړاندي لاړو، په يوه سړي تيريدلو چي، ډير بد شکله و. کله مو هم داسي بد صورت دچا نه ؤ ليدلی او مخي ته يې اور دی چي دی يې بلوي اوخواوشا ورته کړځي. ماورته

وويل: دا څوک دی؟ويي ويل:راځه راځه. مونږ مخي ته ستانه شوو يوګڼ بڼ ته ورسيدلو چي پکښي دهر ډول پسرلي دګلانو غوټي وي او دبڼ په منځ کي يو داوږد قدځښتن سړی چي سريي د اوږدوالي له کبله نه ليدل کيده، ناست ؤاوشاوخوا ورته ډير زلميان راټول شوي وو. ماپوښتنه وکړه دغه کوم باغ دی اوداڅوک دي؟ ويي ويل: وړاندي ځه.مونږ ستانه شوو. يوي عظيم الشان وني ته ورسيدلو چي داشان ښايسته او غټه ونه مو هيڅ نه وه ليدلي. هغو دوو راته وويل: وخيژه. مونږ ور وختلو،نو مويو ښار وليدی چي، يوه،يوه خښته يي دسروزرواويوه،يوه خښته يي دسپينو زرو لګيدلي وه.مونږدښاردروازي ته ورسيدلو،هغه موخلاصه کړه او دننه ورغلو. مونږ يوڅوتنه وليدل چي نيم بدن يي ډير ښايسته او نيم بدن يي ډيربدرنګه ؤ.

هغه دووکسانوراته وويل:ځي،دي نهرته ولويږي. هلته غټ نهرجاري و،اوبه يي دشيدوپه شان سپينې وي.هغوی ورولويدل بيامونږته راغلل.نوبد صورتي يي ټوله ورکه شوه. بياهغو دووراته وويل:

دا دعدن جنت دی او ګوره هغه ستا کور دی. زما نظر پر ولګيد نويومحل دی لکه سپينه اورئيځ. ويي ويل:

دا ستا کوردی. ماو ورته وویل: الله تعالی دي ښه درسره وکړي. ماپریږدي چي ورننوزم. ویي ویل: اوس نه. وروسته به ورسي. ما ورته وویل:

نن شپه موعجیبه، عجیبه تماشي ولیدلي. اخر دا څه شیان و؟

هغوی وویل: اوس یي دربښیو!

هغه سړي چي سریي په ډبره وهل کیده هغه داسي شخص و چي قرآن یي حاصل کړي اوبیرته یي پري ایښي اودفرض لمانځه څخه به بیده و.

اوهغه سړي چي مخ پوزه څخه دسرترکوپړی او ترخټه څیري کیده. دا هغه سړی دی چي سهار به له کورڅخه ووت اود روغ خبري به یي کولي. کومي چي لیري، لیري رسیدلي. کوم چي لوڅ نارینه او ښځي په تنور کي لیدل کیدل، دا زنا کوونکي وو. کوم سړی چي په اوبوکي لمبیده او خوله یي له ډبرو ورډکوله. دا سودخور دی اوهغه بد صورته سړی چي اور یي بلوی اوشاوخوا ورته ګرځیده. هغه د دوزخ مالک داروغه دی. هغه اوږدقدوالاپه باغ کي سړی، حضرت ابراهیم (علیه السلام) و. اوکوم زلمیان چي شاوخواورته ګرځیدل، داهغه کوچنیان ووچي، په فطرت باندي مړه شوي دي.

یوه مسلمان وپوښتل: یارسول الله(صلی الله علیه وسلم) دمشرکانو زامن هم؟

ده مبارک(صلی الله علیه وسلم) وفرمایل:

"هو !دمشرکانو زامن هم پکښئ دي."

کوم خلک چې نیم بدن یې ښایسته او نیم بدن یې بد صورته و، هغه خلک دي چې یوځه ښه عمل یې کړی اوځه بد. هغه الله تعالی معاف کړي دي.

له دي حدیث نه داعمالو اثرات څرګند شول او مناسبت که څه هم پټ دی. خو په لږ فکر سره پوهیدلای شي. مثلاً په دروغ ویلو او کوپړې څیریدلو کې مناسبت ښکاره دی. اوپه زنا کولو سره دشهوت اور یې په ټول بدن کې غوړیږي. پدي کې او عذاب په اورکې مناسبت ښکاره دی. اودزنا په وخت د لوڅیدو او په دوزخ کې دلوڅیدوکې مناسبت ښکاره دی. علي هذا القیاس وارد حملونه دغسي وګوری.

دوهم فصل

دګوم مال چې زکوٰة ورنکړه شي. هغه به دمار په شکل کې دده په غاړه کې اچول کیږي.

له حضرت ابن مسعود (رضی الله تعالی عنه) څخه روایت دی چې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) فرمایي:

"نشته کوم سړی چې زکوٰة نه ورکوي دخپل مال مګر الله تعالی به دقیامت په ورځ دهغه په غاړه کي اژدها مار واچوي." (مشکوة)

بیاده مبارک (صلی الله علیه وسلم) ددي دتائید لپاره دقرآن مجید دا ایت تلاوت کړ:

"وَلَا يَحْسَبَنَّ الَّذِيْنَ يَبْخَلُوْنَ بِمَا اٰتٰهُمُ اللّٰهُ مِنْ فَضْلِهٖ هُوَ خَيْرًا لَّهُمْ بَلْ هُوَ شَرٌّ لَّهُمْ سَيُطَوَّقُوْنَ مَا بَخِلُوْا بِهٖ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ." (آل عمران - ۱۸۰، ترمذي)

ژباړه: "اوګمان دي نه کوي له سره هغه کسان چې بخیلي کوي. دوی په هغه شي چې ورکړي دي دوی ته الله له فضله خپله چې دابخل خیر دی (غوره دی) دوی ته، بلکه دا بخل ډیر بد شردی دوی ته.

ژر به په غاړه کښي ورته امیل کړای شي هغه چې بخیلي کړي ده، دوی په هغه شي کښي، په ورځ دقیامت."

دریم فصل

وعده خلافي به دبیرغ په شکل کي متمثله وي. د قیامت په ورځ به درسوائي باعث وي.

له حضرت عمر(رضی الله تعالی عنه) څخه روایت دی چې، درسول الله(صلی الله علیه وسلم) څخه مې اوریدلي دي چې: " څوک یوچا ته پناه ورکړي اوبیایي ووژني. نوهغه ته به پرشا بیرغ ورکول کیږي او غږبه اوچت کیږي چې، هذه غدرة فلان. یعني دافلانی سړی وعده خلافی ده. "

څلورم فصل

په کوم شي کې یې چې غلا اوخیانت کړی وي هغه به ورته دعذاب الَه شي.

دابوهریره(رضی الله تعالی عنه)څخه روایت دی چې یوه
سړي، رسول اکرم(صلی الله علیه وسلم)ته، غلام په تحفه
کې ورکړ. دهغه نوم مدعم و.
مدعم درسول اکرم(صلی الله علیه وسلم)، څه سامان کښته کوی ناڅاپه یو غشی پرې ولګید. ویشتونکي یې معلوم نه و. خلګو وویل: جنت دي مبارک شي.

ده مبارک(صلی الله علیه وسلم)وفرمایل: " داسي هیڅکله مه وایاست. سوګند په هغه ذات چي په ولکه کي یي زماروح ده، کومه کمبله چي هغه دخیبرپه ورځ اخستي وه، ویشل شوی نه وه. هغه اوس داور دشعلي په څیر وربانديي ګرزي.

کله چي خلګودا مضمون واورید. یوه سړي دبوتو یوه یا دوي تسمي بیرته راوړي.

نبي(صلی الله علیه وسلم) وفرمایل: " اوس څه کیږي دغه یوه یادوي تسمي داورګرځیدلي دي. "

(بخاري، مسلم)

پنځم فصل

دغیبت کولو مثالي معنی، دمړه ورور دغوښو د خوړولو په شان دی.

قال الله تعالی: " وَلَا يَغْتَبْ بَّعْضُكُمْ بَعْضًا اَيُحِبُّ اَحَدُكُمْ اَنْ يَّاْكُلَ لَحْمَ اَخِيْهِ مَيْتًا فَكَرِهْتُمُوْهُ " (الحجرات- ۱۲)

"اونه دي کوي غیبت ځینې ستاسي دځینو نورو. ایاخوښوي یوله تاسي څخه. داچي د خپل ورور غوښي وخوري. حال داچي مړي وي. پس بدګنې تاسي هغه، نوهمدارنګه بدوګنی دمسلمان ورور غیبت. "

شپږم فصل

دا هل معاني داقوالوڅخه دځينوشيانو دمثالي صورت په بيان کي محققينو فرمايلي دي:

دهربد خصلت (ګناه)ديوه حيوان سره ځانګړی خصوصيت دی.په کوم سړي کي چي هغه خصلت غالب شي، په مثالي عالَم کي دهغه شکل په دنياکي ښکاره کيده. محمدي امت الله تعالی په دنياکي له رسوايي څخه وژغوري.خو په اخرت کي به په هغه شکل کي ښکاره شي. دقيامت په ورځ به ښکاره کيږي او دکشف خاوندانو ته دلته مکشوف کيږي.

سفيان بن عيينه(رضی الله عنه)دا آيت:

"وَمَامِنْ دَابَّةٍ فِي الْأَرْضِ وَلَا طَائِرٍ يَطِيرُ بِجَنَاحَيْهِ إِلَّا أُمَمٌ أَمْثَالُكُمْ." (الانعام-٣٨)

يعني: "نشته کوم حيوان پرځمکه تلونکی او نه کوم الوتونکی چي په خپلو وزرونوالوزي. مګر هغه ستاسي په شان جماعتونه دي."

سفيان فرمايي: "ځيني خلګ دځناور په اخلاقو وي.بعضي دسپيو، خنزيرانواوخروپه اخلاقووي. ځيني

بیا ځانونه ښایسته کړي، دطاوس سره یې مشابهت وي. ځینې مردارلکه خره غواړي، ځینې خپله پالنه په خپله کوي. لکه؛ چرګان. ځینې حسد کوونکي دي، لکه اوښ. دځینو مشابهت دمچ او دځینو دابیادګیدړي سره وي. فقط.

امام ثعلبي(رحمه الله تعالی) "دفَتَاتُوْنَ اَفْوَاجاً "په تفسیرکي ویلي دي: " دقیامت په ورځ خلګ په بیلا بیلو صورتونو کي پاځول کیږي. دکوم حیوان عادت چې پرطبیعت غالب وي. دقیامت په ورځ به دهغه په شکل کي وي."

اووم فصل

دځینو اعمالو دمثالي صورت تحقیق دحضرت مولانا روم(علیه الرحمه) په قول سره:

چون سجودي یار کوعي مرد کشت
شد دران عالم سجود او بهشت
چونکه پرید از دهانت حمد حق
مرغ جنت ساختش رب الفلق
حمد و تسبیحت نماند مرغ را
همچو نطفه مرغ باد ست و هوا

چون زدستت رفت است ایثار وزکوة
کشت این دست آن طرف نخل ونبات
اب صبرت اب جـــوي خلد شد
جوي شیر خلد مهرتست وود
ذوق طاعت گشت جوي انگبین
مستي وشوق تو جوي خمربین
این سببـــها ان اثر هارا نماند
کس نداند چونش جاي انشاند
این سببها چون به فرمان توبود
چارجوهم مـــرترا فرمان نمود
برطرف خوابي روانش مي کني
ان صفت چون بد چنانش میکني
چون مني تو که درفرمان تست
نسل تودرامرتوایند چـــست
میرود درامـــــــر تو فرزند تو
که منم جـزوت که گردم گرد تو
ان صفت در امر تو بود این جهان
بم در امر تست ان جوها راون
ان درختان مر ترا فـــرمان برند
کان درختان ازصفاتت باربرند

چون بامرشد این جااین صفات
پس درامرتست انجا ان جزات
چون زدست زخم بر مظلوم است
ان درختي گشت ازان زقوم است
چون زخشم اتش تو دردلهازدي
مـــايئـــه نـــارجهنم امدي
اتشت اینجاچو مردم سوزبود
انچـــه ازوي زادمرد افـــروز بود
اتش تو قـــصد مردم مي کند
نـــار کـــزوي زادبرمـــــردم زند
ان سخنهـاي چوما روکژدمت
ماروکژدم گشت ومیگیرد دودست

ژباړه:

۱- کله چې یو سړی سجده یا رکوع وکړي، نو دغه سجده په اخرت کي دجنت یوه برخه شوه.

۲-کله چې ستا له خولي دالله دحمد کلمه ووتله نو الله تعالی هغه دجنت مرغه کړئوي.

۳-ستا دحمد اوتسبیح او دجنت په مرغانوکي که څه په بنکاره کوم مشابهت نشته، لیکن خپله مرغه (دنطفي) دا هم تر باد زیات کوم حقیقت نشته. نو که د

حمد او تسبیح الفاظ کوم چي دساه او اواز نه جوړیږي په مرغانو بدل شي نو څه عجیب.

۴-کله چي ستا په لاس دلته ایثار او زکوة ورکړه شو ،نو په هغه لاس بل خواته دخرما وني شني شوي.

۵-ستا دصبر اوبه په اخرت کي همیشه ډ ویالي اوبه شوي، ستا مهرباني او محبت کول په اخرت کي دشیدو همیشنی ویالي شوي.

۶- دالله تعالی دعبادت خوندا وشوق په جنت کي دعسلو ویاله جوړه شوه او دالله په محبت کي مستي او د ملاقات شوق پاکیزه شراب ګرځي.

۷-دغه اسباب(اعمال)دهغو اثراتو(دجنت انعاماتو) سره(په ښکاره)کوم مشابهت نه لري. څوک نه پوهیږي چي الله رب العزت هغه اعمال څرنګه په نعمتونو بدل کړل او په جنت کي یي کښیښودل.

۸- څرنګه چي دغه سببونه(عملونه)په دنیاکي ستا په اختیار او ارادي سره پیدا شوي دي،له دي کبله هلته ددي (اثرات) څلورنهرونه به هم ستا تابع وي.

۹- دغه نهرونه چي کوم لوري ته بهوي کولاي شي،لکه څنګه چي هغه صفات(اعمال)ستا په اختیار کي وو.دغه ډول دهغه نتیجي (نهرونه) هم ستا په

اختيار کي دي.

١٠- څرنګه چي ستادمني استعمال ستاپه اختيار کي دي نوستانسل هم ستاپه حکم منلوکي چمتو دي.

١١-ستا خپل زوي ستا په اطاعت کي کوښښ کوي، ګواکي هغه دحال په ژبه وايي چي ستايوه برخه يم او له دي کبله ستا په اطاعت کي هڅي کوم.

١٢- دغه ښه والی ستا په حکم پدي دنياکي دي نو ستا په امر سره په اخرت کي ولي وويريږي.

١٣-هغه د(جنت وني) ستا امروړونکي دي ولي چي هغه وني ستا دصفاتو له امله ميوه نيولي ده.

١٤- څرنګه چي په دي دنيا کي دغه صفات ستا د حکم تابع دي له دي کبله هلته په(اخرت) کي ددي دجزا او ثواب صورتونه هم ستا دحکم تابع وي.

١٥- کله چي ستاپه لاس مظلوم زخمي شو، نو دغه ظلم په دوزخ کي دزقوم ونه شنه کوي.

١٦-کله چي دلته ستا (دقهر او غضب) اور د خلګو زړونه سوزوي نو ته به هلته په اخرت کي ددوزخ داور لوګی شي.

١٧- ستا دغصي اورچي پدي دنياکي خلک وسوزل نوپه دي اور سره په اخرت کي چي کوم اور پيدا کيږي

هغه به هم انسانان سوزونکی وي.

۱۸- ستاد قـــهراوغضب اورچي دلته پرخلکواثر کوي ددغه اورخـــــخه چي په اخرت کي کوم اورپيدا کيږي هغه هم پر انسانانو اثر کوي.

۱۹- ستا دمار اولړم په شان ناوړه خبري په اخرت کي خامخابه ماراولړم شي.

ستاپردواړولاسونوبه حمله کوي او چيچي به دي.

دمطلب خبره:

دآيتونو،احاديثواوذکرشويو اقوالوڅخه په ښه توګه څرګنده شوه چي، انسان کوم عمل کوي، د هغه وجودپاته وي اوهغه يوه ورځ ښکاره کيږي.

قال الله تعالى: "فَمَنْ يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَيْرًا يَرَهُ وَمَنْ يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ شَرًّا يَرَهُ".

ژباړه: "پس هغه څوک چي عمل کوي په اندازه ديوي ذري دخير(نيکي) نو به ويني جزا دهغه اوهرهغه څوک چي عمل کوي په اندازه ديوي ذري دشر (بدي) نو وبه ويني سزا دهغه."

نوجنت اودوزخ انسان په خپلولاسونو اخلي او دا تحقيق دتقديردمسئلي مخالف نه دي. دائکه چي د

تقدیر په مسئله کي دانه دي نبودل شوي چي کوم شي پرته له سببه وي. هیڅکله داسي نده. بلکه څه چي په تقدیرکي کیږي. جنت اودوزخ ته دننوتلو دقوي اسبابو له جملي څخه نبه یا ناوړه اعمال دي. له دي کبله اصحابانو (رضی الله تعالی عنهم) چي کله دعمل دکتي وپوښتل. رسول الله (صلی الله علیه وسلم) وفرمایل:

"اِعْمَلُوْا فَکُلٌّ مُیَسَّرٌ لِمَا خُلِقَ لَهُ."

یعني "عمل کوي چي هرسړي ته هغه کاراسانه دی دکوم لپاره چي هغه پیدا شوي دی."

قال الله تبارک وتعالی:

"فَاَمَّا مَنْ اَعْطٰی وَاتَّقٰی وَصَدَّقَ بِالْحُسْنٰی فَسَنُیَسِّرُهٗ لِلْیُسْرٰی وَاَمَا مَنْ بَخِلَ وَاسْتَغْنٰی وَکَذَّبَ بَالْحُسْنٰی فَسَنُیَسِّرُهٗ لِلْعُسْرٰی." (اللیل ۵-۱۰)

"نوهرهغه چاچي له خپل مال نه ورکړه کوله او ویردله (له الله) او یقین یي کړی و په نبه کلمه دایمان، نو ژر ده چي تیار به یي کړو دپاه دلاري اساني (دشریعت) اوهرڅه هغه چي بخیلي یي وکړي (په ادا دحقوقو) او بي پروایي وکړي (له الله) او دروغ یي وګڼل نبه کلمه دایمان، نوژرده چي تیاربه یي کړودپاره دلاري سختي (دبد عملي)."

مطلب داچي څرنګه عمل دلته کوي په برزخ او په قیامت کي به له ده څخه پرده اوچتیږي.

قال الله تعالی:

"فَكَشَفْنَا عَنْكَ غِطَائَكَ فَبَصَرُكَ الْيَوْمَ حَدِيْدٌ."

ژباړه:

"نوبیرته موکړه له تاڅخه،پرده دغفلت ستا نو سترګي ستانن ډیري تیزي دي(چي پري ویني دخپل ځان ټول اعمال)

یاالله! مونږته صحیح پوهه را کړي اودومره فکر رانصیب کړي چي د ګناه په وخت دهغه دسزا په فکر کي وي او یا دحفاظت توفیق را کړي

آمین یارب العالمین

څلـــــــــورم باب

په دي کي چي طاعت داخرت په جزاء کښي څرنګه مداخله او تاثير لري. ددي اجمالي تحقيق خو په دريم باب کي په تفصيل سره شوی دی. اوس دلته يوازي د څواعمالو مثالي صورتونه په دلائلو سره ليکل کفايت کوي.

لومړی فصل

د "سُبْحَانَ اللهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ وَلَا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ وَاللهُ اَكْبَرُ" مثالي صورت دوني په شان دی.

دحضرت عبدالله بن مسعود (رضی الله عنه) څخه روايت دی. رسول الله (ص) فرمايي:

"دمعراج په شپه مي دحضرت ابراهيم (عليه السلام) سره ملاقات وکړ. هغه راته وفرمايل:

اي محمد (صلی الله عليه وسلم)! خپل امت ته زماله طرفه سلام اوخبر ورکړه چي، جنت پاکي خاوري او خوږي اوبه لري. اوپه اصل کي هغه يوصاف ميدان او ددي ونې، سُبْحَانَ اللهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ وَلَا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ واللهُ اَكْبَرُ دي." (ترمذي)

دوهم فصل

دبقره او آل عمران سورتونو مثالي صورت د وريځي يادمرغانودي.

له نواس بن سمعان(رضی الله تعالی عنه) څخه روايت دی چي ما د رسول (صلی الله علیه وسلم) نه اوريدلي دي چي:

" دقيامت په ورځ به قرآن کريم راوړل شي او کومو کسانو چي عمل ورباندي کړی وي، وړاندي مخي ته به روان وي. دسورة بقرة اوسورة آل عمران به دتوري وريځي غوندي سايوانونه وي.په منځ کي به يي يوه روښنايي وي(د محققينو په وينا، دغه روښنايي به دبسم الله وي) يا څنګه چي کتار غوندي ولاړ دمرغانو دوي ټولی وي، حجت به کوي دواړه سورتونه، دخپلو تلاوت کوونکي له لوري. "(مسلم)

دريم فصل

دسورة "قُلْ هُوَاللهُ اَحَدٌ" مثالي صورت دمانی په مثل دی.

په مشکوة کي سعيد بن المسيب(رحمه الله تعالی) مرسلا روايت کوي چي حضرت رسول الله(صلی الله علیه وسلم)

فرمايي:

"کوم څوک چي قل هوالله احد لس ځلي تلاوت کړي، دهغه لپاره به په جنت کي يو کور جوړيږي اوچي شل ځله يي تلاوت کړي، دهغه لپاره دوه کورونه جوړيږي. اوچي ديرش ځله يي تلاوت کړي، دهغه لپاره دري کورنه جوړيږي."

حضرت عمر(رضی الله تعالی عنه)وويل: "سوګند په الله، يارسول الله !نو اوس خو به مونږ ته ډير کورونه جوړ شوي وي." ده مبارک وفرمايل: "الله تعالی تر دي زيات مهربانه دی."

څلورم فصل

دجاري عمل مثالي صورت دچيني په شان دی. دام العلاء انصاريه(رضی الله تعالی عنها) څخه روايت دی چي، عثمان بن مظعون(رضی الله تعالی عنه) په خوب کښي يوه جاري چينه وليدله او دغه خوب يي رسول الله (صلی الله عليه وسلم)ته بيانکړ.رسول الله(صلی الله عليه وسلم) وفرمايل: "داد هغه عمل دي چي دهغه لپاره جاري ده." (بخاري)

پنځم فصل

ددين مثالي شکل دلباس په شان دی. دابو سعيد خدري(رضی الله تعالی عنه) څخه روايت دي چي:

"رسول الله(صل الله عليه وسلم) فرمايي: "زه بيده وم اوخلک زما وحضورته وړاندي کيدل.جامي يي اغوستي وي. دچاقميس ترسينې پوري، دچا بيا تر دي څه کښته وي. حضرت عمر(رضی الله تعالی عنه) چي وړاندي شو.نودهغه قميس دومره اوږد وو،چي پرځمکه پسي څکيدی."

خلګو پوښتنه ځني وکړه:

"يا رسول الله !(ص) ددي تعبيرڅه دی؟

رسول الله(صلی الله عليه وسلم) وفرمايل:

"تعبير يي دين دی." (مشکوة)

شپږم فصل

دعلم مثالي شکل شيدي دي.

دابن عمر(رضی الله تعالی عنهما) څخه روايت دي چي ما درسول الله(صلي الله عليه وسلم) نه اوريدلي چي:

" په خوب کي دشيدويوه پياله راته راوړل شوه. ما ورڅخه وڅښلي تر دي چي دمړيدلو اثر مي دخپلو نوکانو څخه وتلی وموندی. بيا پاتي شيدي مي حضرت عمرته ورکړلي. "

خلکو پوښتنه ځيني وکړه ددي تعبيرڅه دي؟ نبي(عليه الصلوة والسلام) وفرمايل: "علم" (مشکوة)

اووم فصل

دلمانځه مثالي صورت نوردی.

دعبدالله بن عمروبن العاص(رضی الله تعالی عنه) څخه روايت دی چي: "رسول الله (صلی الله عليه وسلم) دلمانځه ذکر وکړاو ويي فرمايل:

"کوم سړی چي دلمانځه ساتنه کوي هغه لمونځ به ورته دقيامت په ورځ نور، برهان او نجات وي. "

اتم فصل

دصراط مستقيم مثالي شکل دپل صراط دی. امام غزالي(رحمه الله تعالی) په رساله حل المسائل الغامضه کي فرمايلي دي چي: " په پل صراط ايمان راوړل حق

دي. داچي ويل كيږي، پل صراط په نري والي كي دوينښته په شان دی. داد هغه په صفت كي ظلم دی. هغه خو تر وينښته هم نری دی. دده او وينښته څه مناسبت نشته.لكه څرنګه چي په نريوالي كي د هندسي دخط چي دسيوري اولمړپه منځ كي وي. نه په سيوري كي دهغه شـــــميرشته،نه په لمركي دوينښته سره هيڅ مناسبت شته.دپل صراط نريوالی هم د هندسي خط په مثل دی. چي عرض يي نشته ولي چي هغه دصراط مستقيم په مثال دی چي په نريوالي كي دخط هندسي مثل دی.

صراط مستقيم د متضاده اخلاقو دحقيقي منځ مطلب دی. لكه دفضول خرچي اوبخل ترمنځ حقيقي منځ، سخاوت دی.

دافـــراط غضبي قوت اوبزدلي په منځ كي شجاعت. داسراف او نه خرڅولو ترمنځ صراط مستقيم ميانه روي ده.

د تكبراواخرني درجي ذلت په منځ كي، تواضع. په شهوت اوخمودكي عفت. ولي چي ددغه صفتونو دوه طرفه دي. يو زياتوالي او بل كمی. دواړه مذموم دي. دافراط او تفريط ترمنځ وسط ميانه روي ده. هغه د

دواړو طرفو انتهائي لري والي دی. اوهغه وسط، میانه روي ده .نه دزیادتي په طرف کي ده نه دکمي په طرف کي. لکه فاصل خط چي دلمراو سیوري ترمنځ وي. نه دسیوري څخه ده، نه دلمر څخه.

کله چي الله تعالی دخپلو بندګانو لپاره په قیامت کي صراط مستقیم چي دخط هندسي په شان دی چي هیڅ عرض یي نشته ممثل کړي. نودهرانسان څخه پردي پل باندي داستقامت غوښتنه کیږي نو کوم سړی چي په دنیا کي پر صراط مستقیم باندي استقامت وکړي دافراط او تفریط یعني دزیاتوب او کمي دواړو طرفو څخه هیڅ لوري ته میلان نه کوي، ولي چي ددغه سړي عادت په دنیاکي د میلان څخه دځان ساتو وو، نو دادهغه طبعي وصف جوړ شو او عادت طبیعي خاصه وي نو پرپله برابر تیریږي.

له دلایلونه څرګنده شوه چي داخرت دکارخاني بل څوک منتظم نه دی. چي څوک یي ونیول دوزخ ته یي ور واچول اوڅوک یي وجنت ته ولیږل. ټول اختیار یي حقیقي مالک ته دی. خوعادت او وعده داسي ده چي څه کوي هماغسي به یي وینې. له دي کبله ارشاد فرمایي:

"وَمَا كَانَ اللّٰهُ لِيَظْلِمَهُمْ وَلٰكِنْ كَانُوْا اَنْفُسَهُمْ يَظْلِمُوْنَ"
(العنکبوت-۴۰)

ژباړه: "اونه ووالله چې ظلم يې کړي وي پرهغوی وليکن وو دوی چې پرخپلوځانونوبه يې ظلم کاوو (په کفر او معصيت سره)"

اوفرمايي:

"سَابِقُوْا اِلٰى مَغْفِرَةٍ مِنْ رَبِّكُمْ وَجَنَّةٍ عَرْضُهَا كَعَرْضِ السَّمَاءِ وَالْاَرْضِ." (الحديد-۲)

"تلواروکړی وځغلي تاسي.(اي مومنانو!)طرف دمغفرت اوبخښنې ته چې ته له (جانبه)درب ستاسي دی (او وکړی ښه عملونه)او(تلوار وکړی وځغلی تاسي اي مومنانوهغه) جنت ته چې پلنوالی يې داسي دی لکه پلنوالي دآسمان اوځمکې چې دواړه سره يوځای کړای شي.

که په جنت کې ننوتل بالکل غير اختياري وي نو يې ورته دمنډې وهلو حکم څرنګه وکړ؟يعني دهغه اسباب يې اختياري کړي دي چې د آيت سره سم جنت ته د ننوتلو وعده بشپړه شي. له دي امله جنت ته دمنډې وهلو دحکم نه وروسته يې هغه اعمال اواسباب بيان کړل چې.په يقيني ډول سره دانسان په اختيار کې دي:

"اُعِدَّتْ لِلْمُتَّقِيْنَ الَّذِيْنَ يُنْفِقُوْنَ فِي السَّرَّاءِ وَالضَّرَّاءِ وَالْكَاظِمِيْنَ الْغَيْظَ وَالْعَافِيْنَ عَنِ النَّاسِ وَاللّٰهُ يُحِبُّ الْمُحْسِنِيْنَ. وَالَّذِيْنَ اِذَا فَعَلُوْا فَاحِشَةً اَوْ ظَلَمُوْا اَنْفُسَهُمْ ذَكَرُوا اللّٰهَ فَاسْتَغْفَرُوْا لِذُنُوْبِهِمْ وَمَنْ يَّغْفِرُ الذُّنُوْبَ اِلَّا اللّٰهُ وَلَمْ يُصِرُّوْا عَلٰى مَا فَعَلُوْا وَهُمْ يَعْلَمُوْنَ." (ال عمران ۱۳۲-۱۳۵)

ژباړه:

"تيار کړی شوی دی، دغه (جنت) لپاره د پرهيزګارانو هغه کسان چې نفقه ورکوي (مال لګوي دالله په نامه) په خوښي (يا ارزاني يا شتمني کښې) اوتکليف (ياقيمي ياتنګسه کښې) اوچې زغمونکي د قهردي (سره له قدرته) اوعفوه کوونکي دي له خلګو چې پرې وکړي زياتي اوظلم اوالله خوښوي نيکي او هغه کسان کله چې وکړي دوی کومه لويه ګناه يا ظلم وکړي دوی پرخپلو ځانونو باندي (په کولو دوړو ګناهونو) نويادکړي دوی الله. پس دوی بخښنه وغواړي دخپلو ګناهونواوخوک دي چې. مغفرت کوي د (تولو) ګناهونو (هيڅوک بې مغفرت نکوي) مګر (مغفرت يې کوي) الله. اوله کوي مداومت دوی پرهغه ګناه چې کړي وي دوی. حال داچې دوی پوهيږي. (چې مونږ بدکړې دي).

وګوري په دي آيت کي ښکاره راغلي چي جنت د داسي کسانو لپاره دی چي پکښي دغه اوصاف وي او دغه واړه اسباب اختياري دي له دي وروسته نورهم په څرګندو لفظونو کي وښيي چي د دغه اعمالو له کولو څخه جنت ورکول کيږي.

ارشاد دی:

"أُولَٰئِكَ جَزَاؤُهُمْ مَغْفِرَةٌ مِنْ رَبِّهِمْ وَجَنَّاتٌ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا وَنِعْمَ أَجْرُ الْعَامِلِينَ"

(ال عمران- ۱۳۶)

ژباړه: "هم دا (متقيان چي ذکر شول) جزاء د دوی مغفرت دی (له جانبه) د رب د دوی او جنتونه دي چي بهيږي دونو اوپانو لاندي هغه ويالي چي تل به وي دوي په هغو (جنتونو) کښي او څومره ښه دی اجر (مزدوري) د عاملينو (دغه مغفرت او جنت)"

مونږ په دنياکي ګوروچي د محبوب شي سببونه هم محبوب دي وګوری: مزدور په دي پوهيږي چي د سامان په اوچتولو او مزدوري کولو سره پيسه لاس ته راځي او د مسافرو په سامان اخستلو او ورلو باندي په خپل منځ کي څرنګه جنګيږي هريو غواړي چي دغه سامان اوچت کړي مزدوري وکړي سره له دي چي په دي کي مشقت او تکليف هم دی. بيا هم خوند ورکوي نوځه وجه ده چي جنت

محبوب دی .دالله تعالی ملاقات محبوب دی اوددي اسباب یعني صالح عملونه مرغوب او محبوب نه وي؟

له دي سببه په حدیث شریف کي راغلي:

"لَمْ اَرَ مِثْلَ الْجَنَّةِ نَامَ طَالِبُهَا ...او کما قال"

"جنت غوندي عجب شي ندي لیدلي شوي چي غوښتونکي یي بیده وي"

څوک چي په غړیدلو سترګو دا مضمون ګوري شک نشته چي په سختو اعمالو کي ورته لطف او راحت وي. قال الله تعالی:

"وَاِنَّهَا لَكَبِيْرَةٌ اِلَّا عَلَي الْخَاشِعِيْنَ الَّذِيْنَ يَظُنُّوْنَ اَنَّهُمْ مُلَاقُوْا رَبِّهِمْ وَاَنَّهُمْ اِلَيْهِ رَاجِعُوْنَ" (البقره ۴۵-۴۶)

"او په تحقیق دا لمونځ خامخا ډیر درونده دی مګر (نه دی درونده) په عاجزي کوونکو (خوندا خستونکو له طاعته) هغه کسان چي یقین کوي چي بیشکه دوی مخامخ کیدونکي دي له خپل پرودګار سره او په تحقیق دوی هم ده ته (په اخرت کښي) بیرته ورتلونکي دي"

نو دلمانځه دا سانتیا لپاره دغه یقین اثبات شوی چي مونږ دخپل رب سره مخامخ کیدونکي یو.

او په صحیح حدیث کي ارشاد دی:

"جُعِلَتْ قُرَّةُ عَيْنِيْ فِي الصَّلٰوةِ"

"په لمانځه کي زما د سترګو یخ والی (راحت) شته"

نبه مشوره

کله چي داعمالو مثالي صورتونه معلوم شول نو اوس جزا او سزا ستا په اختيار ده. نو که غواړي چي د جنت ډيري ميوه لرونکي ونې دي په برخه شي نو "سُبْحَانَ اللهِ وَالْحَمْدُللهِ وَلَا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ وَاللهُ اَكْبَرُ." ډير ډير لوله.

که غواړي چي دقيامت په ورځ په سيوري کي واوسي. نودسورة بقرة اوسورة آل عمران تلاوت کوه. چي دا به بيا دسايوان په شکل کي وي. که غواړي چي دجنت چيني درپه برخه شي، خيراتونه ورکوه.

که غواړي چي نبه کالي درکړل شي، نو تقوٰی اودين په ټينګه سره خپل کړه. که دي غوښتنه وي چي په جنت کي دشيدو چينه درکړل شي. يا دحوض کوثر اوبه درکړل شي. نو د دين علم حاصل کړه.

که دي ارزو وي چي پرپل صراط دسترګو د رپيدلو غوندي ژر تير شي، نو پر شريعت مستقيم واوسه. که غواړي چي په مستقيم صراط باندي نور درسره مل وي، نو دلمانځه ښه اهتمام کوه.

که په جنت کي دي ډيرو محلاتو خواهش وي نو قُلْ هُوَ اللهُ اَحَدٌ تلاوت کوه.

دغه ډول چي کوم نعمت غواړي هغه اسباب اختيار کړه. هغه اسباب به د دغو نعمتونو په شکل کي درکړه شي.

"سُبْحَانَ الَّذِيْ لَايُخْلِفُ الْمِيْعَادَ وَلَايُضِيْعَ اَجْرَ الْمُحْسِنِيْنَ."

خاتمه

دځينو خاصو اعمالو په بيان کي کوم چي ډير ګټور ياډير تاواني دي او د عوامو دځينو شبهاتو په ځواب کي، هسي خوچي طاعتونه دي واړه اړين دي. څومره ګناهونه چي دي ټول تاواني دي. ليکن ځيني اعمال چي په درجه داصولوکي دي. ډير د اهتمام وړدي چي، ياعَملي شي اوياځان ځيني وساتل شي چي ددي په پاملرني سره به دنورو اعمالو د اصلاح ډيرامیدوي دابه په دوو فصلونو کي بيانيږي.

لومړي فصل

دداسي طاعاتو نه په ويناکي چي دهغو په اداکولو سره اميددی چي دنورو عبادتونو سلسله دوام وکړي. يوله هغوی ددين علم حاصلول دي. هغه که دکتابونو څخه وي ياد علماؤ صحبت څخه، بلکه د کتابونو څخه د علم حاصولو وروسته هم د علماؤ صحبت اړين دی.

د علماؤ څخه مراد هغه علماء دي چي پر خپل علم باندي په خپله هم عمل وکړي او د شريعت او حقيقت جامع وي. د حضرت محمد (صلی الله علیه وسلم)

دمبارکو سنتونو عاشق وي معتدل وي. دافراط او تفریط څخه څان ژغورونکي وي. دالله تعالی پر مخلوق مهربانه وي. دتعصب او عناد څخه پاک وي...

اوس بفضله تعالی دا شان علماء[1] ډیردي او همیشه به وي. درسول (صلی الله علیه وسلم) ارشاد دی:

"لَایَزَالُ طَائِفَةٌ مِنْ اُمَّتِيْ مَنْصُوْرِيْنَ عَلَى الْحَقِّ لَایَضُرُّهُمْ مَنْ خَذَلَهُمْ"

خومونږ دخوبزرګانونومان تبرکاً په خپله رساله کي لیکو چي، نور هم پردغو قیاس کړل شي. دکوم چاچي دا حال اوشان وي، دهغوی دصحبت نه استفاده وشي.

په مکه معظمه کي، حضرت سیدي مرشدي الحاج الشیخ محمد امداد الله صاحب (دامت برکاتهم)

په ګنګوه کي، حضرت مولانا رشید احمد صاحب دامت برکاتهم.

په سهارنپور کي، جناب مولانا ابوالحسن صاحب، مهتمم جامع مسجد سهارنپور.

په دیوبند کي، جناب مولانا محمد حسن صاحب مدرس اعلی مدرسه دیوبند.

---

[1] - متأسفانه چي له دغو حضراتونه، اوس یو هم ژوندی نه دی. اشرف علي تهانوي

حضرت حاجي محمد عابد صاحب، ددیوبند د چته دمسجد اوسیدونکي.

په انباله کي حضرت سائیں توکل شاه صاحب دامت برکاتهم:

د دغه شان بزرګانوصحبت اوخدمت چي څومره میسروي، سترغنیمت اوعظیم نعمت دی. که هره ورځ امکان ونلري، نوپه هفته کي نیم ساعت خامخا التزام کوی. ددوی برکتونه به په خپلوسترګو ووینې.

یوله هغواعمالوڅخه لمونځ دی. بشپړه هڅي او کوشش به دي داوي چي پنځه وخته لمونځ په پابندي په جماعت سره ادا کړي. له دي څخه دالله په دربار کي به یوډول تعلق اوارتباط قایم وي او ددي

په برکت سره به انشاء الله حالت ښه وي.

"اِنَّ الصَّلٰوةَ تَنْهٰى عَنِ الْفَحْشَاءِ وَالْمُنْكَرِ."

یوله هغوڅخه له خلکوسره لږخبري کول اولږ ملاقات کول دي اوڅه خبره چي کول غواړي دسوچ اوفکر وروسته دي کوي. دزرګونو آفتونو څخه د ساتني یوه اعلیٰ درجه ده.

یوه له هغوڅخه محاسبه اومراقبه ده.

مراقبه: معنی داچي اکثره وختونه دافکرکوي چي زه

دخپل مالک په نظرکي يم.زماپرمابرتولو اقوالو ،اعمالواوحالتونوباندي دهغه نظردی .

محاسبه :داچي يووخت مقررکړي اويواځي کښينې ،دتولي ورځي دعملونو يادونه وکړي.اودافکروکړي چي،اوس زماسره حساب کيږي اوزه له ځواب څخه عاجز يم.(نو بيابه ښه،ښه عملونه وکړم له بدواو ناوړه عملونو څخه به ځان وژغورم.)

يوله هغه نه توبه اواستغفاردي.

کله چي ګناه وشي، ځنډ مه کوه. دکوم وخت يا ديوشي انتظارمه کوه.ژر ځان جلاکړه اوپه تنهايي کي په سجده سره، دالله تعالی څخه ډير معذرت وغواړه، وژاړه اوکه نه دژړا شکل جوړ کړه.

همدا پنځه اعمال درته ښودل کيږي:

۱- علم او دعلماؤ صحبت.

۲- پنځه وخته په جماعت سر لمونځ کول.

۳- لږ خبري کول او دخلکو سره لږ اړيکي لرل.

۴- محاسبه او مراقبه.

۵- توبه او استغفار.

انشاءالله تعالی،ددغو پنځو اعمالوپه پابندي کولو سره به دنورو طاعاتو دروازه درته په مخ خلاصه شي.

دوهم فصل

ددا سي ګناهونو په پيان کي چي ورځخه دځان ساتلونه بفضله تعالی دنورو ګناهونو دخلاصون سبب ګرځي.

يوله هغوی څخه غيبت دی.

له دي څخه ډول، ډول دنيوي اواخروي خرابي پيدا کيږي. بنکاره خبره ده چي، په نن زمان کښي خلګ په دي بدعادت ډير بوخت دي. ددي بدعادت نه د خلاصون آسانه علاج دادي چي، پرته له سخت ضرورت نه دچاتذکر ونه کړي. نه يي دبل نه واوري نه بنه نه بد، په خپلو ضروري کارونوکي بوخت واوسي، که څه وايي د خپل ځان دا ووايه، خپلي دندي څه لږدي؟ چي دنورو په اړه خبري کيږي.

يوله هغوی څخه ظلم دی.

هغه که مالي ووکه ځاني يا زباني. مثلاً دچاحق يي لاس ته راوړ يا يي يو چاته ناحقه تکليف ورسوی يا يي دچا بي عزتي وکړی.

يوله هغوی څخه خپل ځان غټ ګڼل دي.

نورحقيراو خوارګڼل، ظلم، غيبت، کينه حسد، غضب

اونورګناهونه له دغه مرضه پیدا کیږي.

یوله هغونه غصه ده.

هیڅ نه یادیږي چي غصه دي کړي وي اوپیښمانه شوي دي نه وي.ولي چي دغضب په حالت کي دعقل قوت مغلوب کیږي.نوکوم کار چي په دغه وخت کي وشي دعقل خلاف به وي. کومه خبره چي دکولو نه وي،هغه ورڅخه وشوه. کوم کارچي دکولونه وو. هغه ځیني وشو. دغصي ترختمیدلو وروسته یي جبیره نشي کیدلای. کله،کله ټول عمر په هغه غم بوخت شي.

یوله هغوڅخه دنامحرمي ښځي یاسړي سره یو ډول اړیکي لرل دي.

هغه که په لیدلوسره وي،یا ذږه دخوشحالولو لپاره خبري ورسره کول، اوپه خلوت کي ورسره کښیناستل،یادهغي دطبعیت دخوښي له پاره خپل هیئت یا خبري سمول او نرم کول وي.

زه په ربښتیاسره عرض کوم چي له دغه ډول اړیکو څخه چي کومي،خرابئ پیدا کیږي اوڅه،څه غمونه چي ځیني پیښیږي.دلیک دحدودو څخه بهر دي. انشاءالله تعالی په یوه رساله کي ضمناً دڅه زیات لیکلو اراده لرم.

یوله هغونه شکمنه دوډي یا حرام خواړه دي.

له دي څخه ټول ظلمتونه او نفساني تیاري پیدا کیږي، ولي چي له دي نه جوړه شوي غذا پر ټولو اعضاو او رګونو کي خوریږي. څرنګه چي غذا وي هسي اثر په ټولو اندامونو کښي پیدا کیږي، او دغه دول کارونه ورڅخه کیږي. دغه شپږ ګناهونه دي چي، زیاتره ګناوي ورڅخه پیدا کیږي. د دغو د پریښودلو څخه د نورو ګناهونو پریښودل په آسانه بلکه امید دي چي، خپله به پریښودل شي. اللهم وفقنا.

اوس به دعامه خلکو ځینو پوښتنوته ځواب ورکړو چي ورڅخه خپله هم په دوکه کي اونوریي هم غولولي دي. کله چي، ورته د طاعتونو د کولو او د ګناهونو څخه د حفاظت یوځه ویل کیږي، نو دوی دغه شبهاتي وړاندي کوي.

دا شبهات په دوه قسمه دي:

یو ډول هغه دي چي، ورڅخه کفر لازمیږي. مثلاً دغه شک کول چي دنیا نغدشی دی او اخرت پور غوندي شی دی. او نغد ترپور نبه وي او یا دغه شک کول چي د دنیا خوند یقیني دي او د اخرت خوند مشکوک دی.

نو يقيني دمشکوک په اميد کي څرنګه پريښودل شي.
لکه چي وايي:
اب تو آرام سي گزرتي هے - عاقبت کي خبر خدا جانے
ژباړه:
" اوس خوښه په ارام تيريږي، اخرت به خداى ته پريږدو. "
څرنګه چي زمونږ مخاطب مومنان دي له دي کبله، دا دول شبهاتي پريږدو.(۱)

۱- پرته له دي، ددغو شبهاتو لغوکيدل په هر عاقل ښکاره ده. داخرت وجود دقطعي دلايلو څخه ثابت دى. که په دلائلو کي څه خبره وي. نو بفضله تعالى، عقلي براهين ددي ذاثبات له پاره هروخت موجوددي. داخرت دثبوت نه وروسته نغد پر پورباندي مطلقاً ترجيح ورکول بالکل مغالطه ده. دغه قاعده هغه وخت چي نغد اوپور کماً وکيفاً برابروي. اوکنه نوددنيا په ټولو معاملاتو کي پورپر نغد ترجيح ورکول کيږي. ديوي پيسي شى که په دوو پيسو په پلورلو په هغه صورت کښي چي په خريدار باندي لږ اطمينان وي نو په ډيري خوشحالي به يې ورکړي. دلته هغه قانون څه شو؟ ۱۲منه

دوهم ډول شبهاتي چي سبب يي ناپوهي او غفلت دی. دهغه ځواب ورکوو. داپه ځوفصلونوکي ليکل غواړو. **بتوفيق الله تعالى**

لومړي فصل

يوشبه داده چي، الله تعالى ډيرغفور، رحيم دی، زمادګناهونوهلته څه حقيقت دی.

ددي ځواب دادی چي بيشکه هغه غَفُوْرٌ اورَحِيْمٌ دی. ليکن قهار او منتقم هم دی. نوتاته داخرنګه معلومه شوه چي، سالپاره به مغفرت خامخا وي. داخوممکنه ده چي دانتقام اوقهرمعامله وشي.

پرته له دي څخه د آيتونو څخه معلوميږي چي، غفور، رحيم دهغه چاله پاره دی چي دتيرو ګناهونو څخه توبه وکړي. اودراتلونکواعمالواصلاح وکړي.

کما قال الله تعالى:

"ثُمَّ اِنَّ رَبَّکَ لِلَّذِيْنَ عَمِلُوْا السُّوْءَ بِجَهَالَةٍ ثُمَّ تَابُوْا مِنْ بَعْدِ ذٰلِکَ وَاَصْلَحُوْا اِنَّ رَبَّکَ مِنْ بَعْدِهَا لَغَفُوْرٌ رَحِيْمٌ."

"يعني له دي وروسته، ستاپروردګاردهغوخلکو له پاره غفور رحيم دی، کوم چي په ناپوهي سره يي ګناه وکړه. بيايي وروسته توبه وکړه اوخپل عمل يي سم کړ

او کوم چې بې له توبې مړ شي."

نو دګناه په اندازه دسزا او عذاب مستحق دی او دالله تعالی دفضل څخه څوک مانع (منع کوونکی) نشي کیدلای. لیکن دهغه چاسره ددي څه دلیل دی. چې ورسره دفضل معامله به کیږي.

دوهم فصل

یوشبه داکیږي چې وایي وروره! اوس څه تلوار دی. اینده به توبه وکړو.

دي ته باید وویل شي چې تاته څرنګه معلومه شوه چې ته به نور هم ژوندی یې. امکان لري دستي په خوب ویده وفات شي. که ژوندی هم پاته شي. نو دتوبې توفیق به ونشي. یاد ولری چې ګناه څومره ډیریږي، دزړه تورواليي هم زیاتیږي. ورځ په ورځ دتوبې توفیق کمیږي. تردي چې زیات خلک پرته له توبې مړه شي.

دریم فصل

یوشبه داکیږي چې، وروره! ګناه به وکړو بیا به یې په توبه معاف کړو.

اوس دغه سړي ته ووایه چې، یوځل خپله ګوته په اورکي ونیسه، بیاملهم په ولګوه. دابه هیڅکله ونه

زغمي. بيانوافسوس دی چي، پرګناه باندي څه ډول جرآت کيږي.

دي سړي ته څرنګه معلومه شوه چي، دتوبي توفيق به خامخا کيږي اوکه يي توبه وکړه نو دالله تعالی په ذمه واجب دي چي توبه قبوله کړي. بيا داچي ځيني ګناوي داسي دي چي ورځخه توبه کول دالله تعالی په حضور کي کفايت نکوي، بلکه د حقدار څخه معافول اړين او ضروري دي.

څلورم فصل

يوشبه داکيږي چي ځيني کسان وائي: مونږ څه وکړو. زمونږ په تقدير کي به دغه شان ليکل شوي وي. داشبه ډيره اسانه ده چي هرکس اوناکس ورځخه ګټه اخلي.

محترمو ! لږانصاف وکړی. کوم وخت چي ګناه کوي. نوپه دغه اراده يي کوي چي زمونږ په تقدير کي ليکلي ده. که دتقدير موافقت وکړو هيڅکله نو هغه وخت ددي مسئلي په وس هم نه وي. کله چي دګناه څخه فارغ شي نوپه فراغت کي دتاويل فکر کوي. که په انصاف ورته وګوري نوددغه تاويل بي قدري په زړه کي فهمولاي شي

دوهمه خبره داده، که په تقدیر دغه ډول اعتماد وي، نو په دنیوي معاملاتو کې پردي مسئله ولي اعتماد نشي کیدلای. کله چې یو څوک تاته ځاني یا مالي تاوان درسوي. نو هیڅکله بدمه ورته وایه. بس دا وایه چې په تقدیر کې دغه لیکل شوي وو چې شرارت به کوي. تاوان به رسوي. هلته د تقدیر د مسئلې انکار کوي. ترټولو زیات پر تقدیر باندې ستا ایمان وي.

پنځم فصل

یوشبه داکیږي. که مو په نصیب کې جنت لیکلي و، نو جنت ته به ځواوکه دوزخ لیکلي و، نو دوزخ ته به ځو. محنت او مشقت ټول بیکاره دي.

دغه شان خلکو ته ویل په کاردي. که دغه خبره وي نو په دنیوي معاملاتو کې ولي تدبیرونه اوکوښښ کوي. د خوراک لپاره دومره اهتمام کوي. کرې یې، یوي کوي یې، اومیده کوي. اوړه لمدوي بیا زغالي جوړوي. بیا یې پخوي. کوله جوړه کړي، خولي ته یوسي، ژویي اوتیره وي یي. هیڅ هم مه کوي که په قسمت کې وو، خپله به سره جوړه شي او نس ته به ولویږي. نو کري (مزدروي) ولي کوي، کښت ولي کوي؟

دغه شعر ولولئ:

رزق هر چند بي گمان برسد- ليڼ شرط است جستن از درها

ژباړه: "رزق چي څومره بي امیده درسي. لیکن درزق دلاس ته راوړلو لپاره د دروازو څخه غوښتل شرط دي." که داولاد خواهش وي. نکاح ولي کوي؟

نو څرنګه چي دتقدیر دثبوت سره د دغه مسببا تو لپاره ځانګړي اسباب غوره کوي. دغه ډول داخرت دنعمتونو لپاره هم هغه اسباب اوصالح عملونه یوځای کول ضروري دي.

یوه مغالطه دا کیږي چي په حدیث کي راغلي:

"أَنَا عِنْدَ ظَنِّ عَبْدِيْ بِيْ"

"زه د خپل بنده د ګمان سره معامله کوم."

نوزمونږ د خپل رب سره حسن ظن (ښه ګمان) دی. خامخابه زمونږ سره ښه معامله کیږي. خو ښه یي یاد ولري چي دامیداوحسن ظن، معنی داده چي اسباب غوره کړه. دنتیجي لپاره دالله تعالی دفضل انتظار وکړه. خپل پرتدبیراعتمادمه کوه اوچي حاجت یي پوره کړی شونوداحسن ظن نه شوبلکه دوکه اوخطا ده. ددي اسانه مثال دادی چي یوځوک تخم وپاشي، که انتظارو کړي چي اوس به غله دالله په فضل سره پیدا

شي نودا اميددی اوکه تخم ونه پاشي او په دغه اميد کښيني چي اوس به غله پيداکيږي. نودا ليونتوب او دوکه ده چي انجام يې له افسوس اوحسرت څخه پرته بل هيڅ هم نه وي.

اووم فصل

يوه مغالطه داده چي مونږ د فلاني بزرګ اولاد يا يي مريدان يو. يا د فلاني بزرګ له ژوندي يا مړي سره محبت کوو. که مونږ هرڅه وکړو. د الله تعالی په دربار کي مقبول اوبخښل شوي يو.

محترمو! که صرف دغه نسبتونه کافي واي، نو رسول اکرم (صلی الله علیه وسلم) به خپلي لورته هيڅکله دانه ويل چي: اي فاطمي! خپل ځان د دوزخ څخه وژغوره. ولي چي زه د الله تعالی په حضورکي څه نشم کولای. يعني چي خپله دايمان اوصالح اعمالو سرمايه نه وي صرف نسبت کفايت نکوي.

اوکه دايمان اود تقوی سره شريف نسبت هم وي، نو سُبْحَانَ اللهِ "نُوْرٌ عَلٰى نُوْر"دي اودقيامت په ورځ به يي ګټه هم وي.

کما قال الله تعالی:

"وَالَّذِيْنَ آمَنُوْا وَاتَّبَعَتْهُمْ ذُرِّيَّتُهُمْ بِإِيْمَانٍ أَلْحَقْنَا بِهِمْ ذُرِّيَّتَهُمْ وَمَآ أَلَتْنَهُمْ مِنْ عَمَلِهِمْ مِنْ شَيْءٍ" (الطور_ ۲۱)

"يعني دپلرونو دمقبوليت له كبله اولاد به يي هم هغه درجي ته ورسوو. دپلرونو اونيكه ګانو په عمل كي به څه كمي نه وي."

اتم فصل

ځينو خلګو ته داشبه كيږي چي الله تعالى ته زمونږ دطاعت اواعمالو هيڅ اړتيانشته. دا ربنتيا ده چي، الله تعالى ته دهيڅ دعمل اړتيانشته. او نه يي كومه فايده رسيږي. ليكن و تاته هم دهغوګټو ضرورت نشته، كوم چي دصالح اعمالو نتيجه ده اوپه بنه عمل كي ستاهم څه نشته. لنډه داچي عمل خو ستا لپاره تاكل شوى دى، نه دالله تعالى دفايدي لپاره. نوالله تعالى كه څه هم مستغني دى. ليكن ته خو مستغني نه يي. ددي خوبعينه دغسي مثال دى لكه: يومهربانه طبيب چي پريوناروغ مهرباني وكړي. كومه دوا وروبنيي اوناروغ دخپل ځان دبنمن، دا ووايي چي په دواخوړلوسره دحكيم صاحب څه ګټه ده. بنكاره خبره ده چي دحكيم صاحب خوځه ګټه نشته. ستاګټه ده داناروغي به دي بنه شي. روغ به شي.

نهم فصل

يوشبه ځيني ظاهري علماؤته داده چي، مونږ نورو کسانوته وعظ او نصيحت کوو. دهغو داعمالو ثواب هم مونږ ته راکول کيږي او هغه دومره ډير دي چي زمونږ دواړو ګناهونو کفاره پري کيږي.

يا دا چي مونږ ته داسي اعمال معلوم دي چي دسونو کلونو ګناوي معاف کيدلاشي.

مثلاً "سُبْحَانَ اللهِ وَالْحَمْدُ للهِ" سل ځله د ورځي ويل يا دعرفي يا دعاشورا د ورځي روژه نيول. يا دمکي داوسيدونکو لپاره طواف کول.

محترمو !آسانه خبره ده که دغه اعمال کفايت وکړي، نودتولواوامرواونواهيو عبث کيدل لازميږي. دلته په احاديثو کي خوښکاره دغه قيد ذکر شوي.

"إِذَا إِجْتَنَبَ الْكَبَائِرَ" دغه اعمال هغه وخت دګناهونو کفاره ګرځي، کله چي دکبيره ګناهونو څخه ځان وساتل شي.

پاته شوه دا خبر چي، مونږ عامو خلکو ته وعظ او نصيحت کوو.

محترمو ! داسې سړی خوډير ګناه کاره کيږي . څرنګه چې په حديث شريف کې دبدعمله واعظ په باب ډيرحديثونه مشهور او معروف دي.

لسم فصل

يوه شبه ځينو جاهلو صوفيانوته داکيږي چې، مونږ دريا ضت او مجاهدي په برکت دفنامقام ته رسيدلي يو. اوس څه نه دي پاته شوي چې څه کووهغه يې کوي اوداسې فضول اوناوړه خبرې کوي چې، ښکاره دکفراو الحاددي. کله وايي لکه په درياب کې چې په يوخاخکي ناپاکي سره درياب نه خرابيږي. کله وايي چې مونږ خپله خدای شوو. عبادت دچا اوګناه دچا. کله وايي چې اصل مقصود خوياد دی ،ظاهري لمونځ او روژه هسې بهانې دي چې، دنظام دمصلحت په خاطر مقرر شوي دي.

ددي ټولو خرافاتو سبب جهالت او ناپوهي ده. دغو کسانوته دحقايقو دمقاماتو هيڅ علم نشته. سلوک اووصول خويي هيڅ خاوري هم ندي ترلاسه کړي.

دغه نتيجه د "غلو في التوحيد" ده.

انشاءالله تعالى په يوه رساله کې به ددي مفصل تحقيق ليکل کيږي.

اوس په دي خبره ځان پوه کړي چي، تر رسول الله (صلی الله علیه وسلم) نه څوک واصل (رسیدلي) شوی اونه هم موحد شوي دی. اونه تر اصحابانو (رضی الله تعالی عنهم) چا ډیر تعلیم ترلاسه کړی دی.

نو د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) او اصحابانو (رضی الله عنهم) ویره او خشیت، توبه او استغفار په اعمالو کښې ډیر کوښښ کول، د نفس د مخالفت او د ناوړو اعمالو څخه حفاظت د دغه شان شبهاتو د ځواب او منع کولو لپاره کافي او وافي دي.

تمت بالخير

(محمد اشرف علي، ۱۳ ذوالقعدة - ۱۳۱۴ھ)

(د ژباړي د پاي نيټه: ۲۹ - ۱۰ - ۱۴۲۱ھ)

مطبوعات مکتبہ حکیم الامت تھانویؒ

د تعلیم الاسلام ویب پانې د همکارانو له خوا:
www.taleemulislam-radio.com